ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورټ او هوايي چلند

## مجله

علمي معلوماتي فرهنګي




پرله پسې:

# ۵ ګڼه

د ۱۴۰۳ کال دوهمه

- د پرمختګ لارې او د سوکالۍ دروازې په پرانېستو دي (سرليکنه)
- هغه پښتون واکمن چې سرکونه جوړل يې ارمان و
- موقعيت جغرافيايي افغانستان، ارزش و اهميت اقتصادی ميدان‌های هوايی
- د نوح(ع) کښتۍ تر اوسنۍ ټکنالوژۍ
- په اسمان کې د الوتکې سپينه کرښه څه معنا لري؟
- فعاليت‌ها و دست‌آوردهای وزارت ترانسپورت و هوانوردی
- هوايي ډګرونه د پرمختګ پر لور
- په يو ټکټ يو کال سفرونه



فیض آباد هوایي ډگر (بدخشان)

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ

وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ

وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ



# ترانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي، معلوماتي، فرهنګي

د دوهم کال دوهمه، پرلپسې پنځمه ګڼه

امتیاز خاوند: ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست

مسئول مدیر: نورالله غازي

کتنپلاوی: امام الدین احمدي، مولوي راز محمد المظهري
احمد جاوید فیضي، سید جاوید محبوب
احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي
عزیز الرحمن فراجغاني

عکاس: روح الله هنرجو

ډیزاینر: محمد هادي قاسمي

پته: انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه
ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت

اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+

ایکسپاڼه: @DChlnd

ویبپاڼه: www.mota.gov.af

یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی.
د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.

# په دې ګڼه کې:






۱.... د پرمختګ لارې او د سوکالۍ دروازې په پرانېستو دي (سرليکنه)

۲........د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام!

**۳.........................................د افغانستان هوايي ډګرونه**

۱۰..................هغه پښتون واکمن چې سړکونه جوړل يې ارمان و

۱٤.......موقعيت جغرافيايی افغانستان ارزش و اهميت اقتصادی...

۲۰...................................د نوح(ع) کښتۍ تر اوسنۍ ټکنالوژۍ

۲۲..........................داسې الوتکه چې په لمريزه برېښنا به چلېږي

**۲۳..............................................کړنې او لاسته‌راوړنې**

۳۵..........................................................الوتونکې ټکسي

۳۷.................................................داسې رنګ چې موټر سوړ ساتي

٤۲......................................................ځغاستليکه (Runway)

٤۳................................................د الوتکو رنګ ولې سپين وي؟

٤٤..............د ټکنالوژۍ ستره ستونزه او پر هوايي چلند يې اغېز

٤۵................په اسمان کې د الوتکې سپينه کرښه څه معنا لري ؟

٤٦...................................................په يو ټکټ يو کال سفرونه

٤۷.......................چرا طيارات بر فراز اقيانوس آرام پرواز نمی‌کنند؟














**يادونه:**

- له سرليکنې پرته د نورو ليکنو سپيناوی د ليکوالانو پر غاړه دی.
- د مجلې له مقالو ګټه اخيستنه د سرچينې په يادولو سره جواز لري.
- ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.




# د پرمختګ لارې او د سوکالۍ دروازې په پرانېستو دي

## سرلیکنه

په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان ځمکه او فضا د افغانانو لپاره د خطر، ضرر او وېرې لامل وه، د اسلامي امارت له فتحې وروسته د دې هېواد ځمکه او فضا دواړه په امن کې دي او له دواړو لارو هېواد ته ګټه او خېر رسېږي. دا چې اوس د افغانستان امنيتي وضعيت تر بل هر وخت غوره او ښه دی او افغانستان له ورځې بلې ته د ښه کېدو پر لور روان دی، د نړيوالو سازمانونو او ادارو هم د افغانستان پر فضايي امنيت باور زياتېږي او د خپلو سوداګريزو الوتنو مخه دې خواته اړوي.

څه موده وړاندې د امريکا د هوايي چلند اداري او اروپايي ټولنې خپلو سوداګريزو الوتنو ته اجازه ورکړه چې د افغانستان پر فضا خپلې الوتنې له سره پيل کړي. د دې پرېکړې تر شا مهمه خبره دا ده چې موږ، نړيوال باور خپل کړی دی او دوی په دې يقيني شوي دي، چې د افغانستان پر فضا امنيتي ګواښونه نشته او د دوی سوداګريزې الوتکې په پوره خونديوب پرې عبور کولی شي.

افغانستان چې د اسيا په زړه کې پروت دی او د نړيوالو سوداګريزو الوتنو لپاره د مهمې ټرانزيټي لارې په توګه پېژندل کېږي، دا لاره تر نورو هغو لنډه او الوتکو ته د تېلو سپما کې مهم رول لري، همدا علت دی چې د افغانستان پر فضا د الوتنو شمېر تر دوه برابره هم زيات شو، وړاندې په هرو څلورويشتو ساعتونو کې کابو سل الوتنې د افغانستان پر فضا تېرېدې، اوس يې شمېر تر ۳۵۰ ته رسېږي، چې دا د افغانستان او په ځانګړې ډول د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره يوه لويه لاسته‌راوړنه ده. له بلې خوا افغانستان ته د نړيوالو معتبرو هوايي شرکتونو الوتنو کې هم زياتوالی راغلی دی او دا شمېر د زياتېدو په حال کې دی. اوس د افغانستان له هوايي ډګرونو څخه د نړۍ بېلابېلو هېوادونو او ښارونو ته الوتنې ترسره کېږي او له نړۍ سره دا اړيکې لا پراخېږي او ټينګېږي.

د دې چارې د لا پرمختګ لپاره ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي، چې د هوايي ټرافيکو سيسټم لا پياوړی او د نړيوالو اصولو سره سم کړي. د سيمې او نړۍ لپاره د افغانستان جغرافيايي موقعيت او ستراتيژيک ارزښت نه يوازې د هوايي ټرانسپورټ؛ بلکې د ځمکني ټرانسپورټ لپاره هم ځانګړی اهميت لري او له بله پلوه هغه لارې چې له پخوا زمانو څخه د افغانستان پر سينه تيرې وې او سوداګريزه راکړه ورکړه پرې کېده، يو ځل بيا په نوې بڼه د احيا او بيا فعالېدو په حال کې دي. دا چې افغانستان د ختيځ او لوېديځ پر څلورلارې پروت دی او له تاريخي پلوه لوی سوداګريز مرکز پاتې شوی دی، ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه کوي، چې د دې هېواد ټرانسپورټي بنسټونه په سمه او معياري توګه ورغوي.

دا د افغانستان لپاره يو زرين دور دی، فضا او ځمکه يې پرامنه او په هر لور د پرمختګ لارې او د سوکالۍ دروازې په پرانېستو دي.




# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پیغام!

الحمدلله ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په تېرو دريو مياشتو کې مهم پرمختګونه درلودل، همدا کړنې او هڅې زموږ د هېواد په اقتصادي او ټرانزيټي پراختيا کې مهم رول لري، چې زموږ ټرانسپورټي او سوداګريزې اړيکې به له سيمې او نړۍ سره لا پراخې کړي.

موږ له ګاونډيو هېوادونو سره د ټرانسپورټي اړيکو د پراختيا او ګډو همکاريو په برخه کې يو لړ مهمې ناستې درلودې، د دغو ناستو موخه دا وه چې د هېواد ټرانسپورټ او هوايي چلند برخې لا پياوړې او سوداګريز فرصتونه ورسره ډېر شي.

موږ په نړيوالو او محلي هوايي ډګرونو کې پراختيايي چارو ته زياته پاملرنه کړې ده، تر څو مسافرو ته د سفر ټولې اړينې اسانتياوې برابرې شي او لا نور نړيوال هوايي شرکتونه افغانستان ته خپلې الوتنې پيل کړي.

لکه څنګه چې تاسې ته معلومه ده، په تېرو څو مياشتو کې په عبوري الوتنو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی، دا لوی پرمختګ موږ دې ته متوجه کوي، چې د هوايي چلند په برخه کې لا ښه‌والی راولو او هوايي ترافيک له نړيوالو معيارونو سره برابر کړو، تر څو دا شمېر تر دې هم زيات شي.

له بلې خوا د ټرانسپورټي او ټرانزيټي زيربناوو جوړولو په برخه کې زموږ هڅې دوام لري او په دې برخه کې مو د ځينو لويو پروژو پرانيستې وکړې او د نورو لويو پروژو پلان لرو، چې د هېواد په ځينو ولايتونو کې به پرې کار پيل شي. د دې پروژو موخه هېواد ته د سوداګرۍ، ټرانسپورټ او ټرانزيټ په برخه کې لا زياتې اسانتياوې رامنځته کول دي. د دې زيربناوو په جوړېدو سره به افغانستان په سيمه کې د يوه ستر ټرانزيټي مرکز په توګه خپل ځای پيدا کړي.

په پای کې غواړم د ټولو هغو ادارو او همکارو هېوادونو مننه وکړم چې د دې پرمختګونو په ترسره کېدو کې يې خپلې هڅې روانې ساتلې دي. زموږ هيله دا ده چې د الله تعالی ﷻ په مرسته په راتلونکي کې د هوايي چلند او ټرانسپورټ بنسټونو په بيا رغونه کې لويې برياوې ولرو او افغانستان د پرمختګ پر لور روان وساتو.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست

(لړۍ)



# د افغانستان هوايي ډګرونه

**پرلپسې دویمه برخه**

**د افغانستان د هوايي ډګرونو د پېژندګلوۍ په دې لړۍ کې دا ځل د افغانستان بل مهم هوايي ډګر د کندهار (احمدشاه‌بابا نړیوال هوايي ډګر) درپېژندل کېږي.**




# احمدشاه‌بابا نړیوال هوايي ډګر

افغانستان چې د نړۍ ستراتیژیکو نقطو په زړه کې پروت دی، تل د ځمکنیو ټرانسپورټي او هوايي لارو یوه مهمه او اړینه برخه پاتې شوې ده. د دې جغرافیایي موقعیت په برکت افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د ملتونو، تمدنونو او فرهنګونو د نښلولو په برخه کې مهم رول لوبولی دی. په افغانستان کې د معیاري نړیوالو هوايي ډګرونو جوړېدو دې ته زمینه برابره کړې، چې د افغانستان سوداګریز توکي او مسافر په پوره چټکۍ او اسانۍ سره د نړۍ ګوټ ګوټ ته ولېږدول شي.

## په کندهار ښار کې لومړنی هوايي ډګر



د کندهار نړیوال هوايي ډګر څخه وړاندې د کندهار ښار په منزل باغ سيمه کې، چې د ښار له مرکزي برخې سره یې نږدې موقعيت درلود، د لومړي ځل لپاره یو کوچنی هوايي ډګر جوړ شو. دا هوايي ډګر چې خامه او شګلنه ځغاستليکه یې درلوده، د هغو لومړنيو هڅو یوه بېلګه وه چې د کندهار ښار یې له نړۍ سره د هوا له لارې نښلاوه. که څه هم دا هوايي ډګر په خامه ډول جوړ شوی و؛ خو بيا هم د اريانا افغان هوايي شرکت ډي سي۳ او ۴ الوتکو او همدارنګه د ايران‌اير او هالنډي هوايي چلند مؤسساتو په دې هوايي ډګر کې ناسته کوله.
دا چې کندهار داسې یو مهم ولايت و، چې بايد لوی نړیوال هوايي ډګر یې درلودلای وای؛ نو په همغه وخت کې د افغانستان حکومت ته د نړیوالو ملکي هوايي شرکتونو له لورې یو وړانديز وشو، چې په کندهار کې یو نړیوال هوايي ډګر رامنځته شي. دا وړانديز د دې لپاره و، چې د هغه وخت د ډي سي۶ عصري الوتکو لپاره، چې اروپا او لرې ختيځ ته یې الوتنې کولې، د سون توکو اخيستلو په موخه یو تم ځای ولري او د دې تر څنګ ډېری هوايي شرکتونو عصري جټ الوتکې په زيات سرعت سره په دې وتوانېږي، چې د اوږدې الوتنې وروسته د دمې او توقف لپاره د لارې پر مسير د سون توکو د اخېستلو په پار په دې هوايي ډګر کې ناسته وکړي، چې دغه وړانديز یو لوی ګام و او د افغانستان حکومت ته یې دا زمينه برابره کړه چې خپل هوايي چلند د نړۍ په کچه له معيارونو سره سم برابر کړي.



# د نړيوال هوايي ډګر جوړولو پروژه او لومړني ګامونه

د ۱۳۳۱هـ ل کال څخه وروسته، د افغانستان حکومت د کندهار نړيوال هوايي ډګر په پروژې کار پيل کړ. دا پروژه د متحده ایالاتو د مرستو تر پروګرام لاندې د مورسن هوډسن کمپنۍ لخوا، چې څارنه يې د متحده ایالاتو د FAA[1] هوايي انجينرۍ متخصص ټيم لخوا ترسره کېده، چارې پيل او د کندهار ښار څخه ۱۶ کيلو متره لرې سوېل ختيځ لور ته، په دامان ولسوالۍ کې د يو لوی او عصري هوايي ډګر پر جوړولو کار پيل شو. په لومړيو کې د ۳۲۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴۵ مترو په پلنوالي پکې په نړيوالو معيارونو برابره ځغاستليکه جوړه او په دې سره دا هوايي ډګر د کندهار نړيوال هوايي ډګر په توګه وپېژندل شو او د دې تر څنګ په دې هوايي ډګر کې نور اړين تاسيسات هم لکه:

د ټکسوې ليکې، د ځغاستليکې او ټکسوې ځراغونه، لوی ترمينل، استوګنځايونه، د سونتوکو سټېشن، د مخابرې او لارښوونې دستګاوې، د اوروژنې او هواپېژندنې وسائل هم رامنځته شول او د دې تر څنګ د (VOR, COMLO NDB) په څېر د الوتکو د لارښوونې عصري او مهرنې دستګاوې او د مرکزي پاورپلانټ سيستمونه، د اوبو رسونې او کاناليزاسيون سيستم او د دې تر څنګ نورې اسانتياوې پکې برابرې شوې.

دغه اسانتياوې د هغه وخت لپاره د يوې لويې پرمختيايي پروژې په توګه ګڼل کېدې او ۱۵ميليونه امريکايي ډالره پرې لګښت راغی، چې چارې يې په ۱۳۴۱هـ ل کال کې پای ته ورسېدې. د دې پروژې بشپړول د افغانستان په نړيوالو اړيکو کې يو لوی ګام و، چې دا هېواد يې له نورو نړيوالو بازارونو سره ونښلاوه.

دا چې کندهار نړيوال هوايي ډګر د لويو موخو لپاره جوړ شوی و؛ خو هغسې کار ورته و نه شو، د افغانستان د ملکي هوايي چلند رياست د هڅو باوجود د هغه وخت د سياسي دلايلو له کبله زيات نړيوال مؤسسات دې ته حاضر نه شول چې د کندهار هوايي ډګر څخه ګټه پورته کړي. دا هوايي ډګر چې د هېواد لپاره يې د يوې لويې عايداتي سرچينې په توګه فعاليت پيل کړ، په دې و نه توانېده، چې نړيوال هوايي مؤسسات د ځان پر لور رامات کړي، د غويي له کودتا وړاندې کلونو کې يوازې اريانا افغان هوايي شرکت و، چې نومړی هوايي ډګر يې د حاجيانو د تګ راتګ لپاره کاراوه.

د غويي له کودتا وروسته په څو کلونو کې د کندهار هوايي ډګر د ملکي هوايي چلند او هوايي دفاع لخوا په ګډه کارول کېده، د دې هوايي ډګر تاسيسات او تجهيزات تر سختې استفادې لاندې ونيول شول؛ خو ساتنې او پاملرنې ته يې هيڅ پاملرنه و نه شوه. د ۱۹۸۰ز لسيزې په اوږدو کې، کله چې افغانستان د شوروي ځواکونو د يرغل لاندې راغی، د کندهار نړيوال هوايي ډګر هم د دې جګړې له اغېزو څخه په امان پاتې نه شو، شوروي ځواکونو له دې هوايي ډګر څخه د پوځي موخو لپاره کار اخيسته. دا هوايي ډګر چې يو وخت د افغانستان لپاره د نړيوالو اړيکو يوه مهمه برخه وه، د جګړې په ډګر بدل شوی و. په دغه موده کې د هوايي ډګر تاسيسات زيانمن شول، ځغاستليکه، ترمينل او نورو تاسيساتو ته يې سخت زيان واوښت.

[1] Federal Aviation Administration

کله چې اسلامي امارت د شر او فساد پر وړاندې خپله لومړنۍ مبارزه پیل کړه او د کندهار ښار یې تر خپلې ولکې لاندې راوست؛ نو په همدې وخت کې شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور(تقبل‌الله) د کندهار هوايي ډګر مسئول وټاکل شو او له دې سره په خوا کې یې د هوايي ځواکونو د هوايي مدافع دنده هم پر مخ وړله، چې په ۱۳۷۵ل کال د کابل له نیول کېدو وروسته د هوايي چلند وزارت وزیر وټاکل شو او تر څنګ یې د هوايي مدافعې د عمومي قومندانۍ دنده هم وروسپارل شوه. شهید منصور(تقبل‌الله) هوايي ډګرونو ته ډېره پاملرنه وکړه، د هوايي ډګرونو ویجاړې شوې برخې یې بېرته فعالې کړې، د اریانا افغان هوايي شرکت کرښه یې د کورنیو او نړیوالو الوتنو لپاره پرانېسته او په کندهار نړیوال هوايي ډګر سربېره یې نورو هوايي ډګرونو ته هم پاملرنه زیاته او د هر ډول ملکي او هوايي الوتنو لپاره یې چمتو کړل. په لومړي ځل یې زرګونه حاجیانو ته حج ته د تللو زمینه برابره کړه؛ خو په ۱۳۸۰ل کال د امریکایي اشغالګرو د ړندو بریدونو په ترڅ کې د کندهار نړیوال هوايي ډګر یو ځل بیا ویجاړ شو.

په ۱۳۸۵ل کال بېرته د کندهار هوايي ډګر بیارغونه په اساسي ډول پیل او دا هوايي ډګر بیا ځلې نظامي او ملکي موخو لپاره ګټې اخیستنې ته چمتو شو. که څه هم چارې او مدیریت یې د امریکایانو په لاس کې و او د ملکي الوتنو تر څنګ نظامي الوتنې هم ترې ترسره کېدې چې د افغانانو د ځور او مرګ ژوبلې لامل و؛ خو بیا هم د بیارغونې کارونه پکې ترسره شول او نړیوالې الوتنې ترې پیل شوې.



## کندهار نړیوال هوايي ډګر د احمدشاه بابا په نوم نومول

په ۱۳۹۸ل کال د کندهار نړیوال هوايي ډګر د افغانستان د لويې تاريخي څېرې، احمدشاه بابا په نوم ونومول شو. احمدشاه بابا چې د لوی افغانستان بنسټ اېښودونکی او د افغانانو لوی مشر و، د دغه هوايي ډګر لپاره د نوم ټاکل يو لوی معنوي او تاريخي ارزښت لري. دا هوايي ډګر چې اوس مهال د احمدشاهبابا نړیوال هوايي ډګر په نوم يادېږي، د هېواد د دويم نړیوال هوايي ډګر په توګه فعاليت کوي.




دا چې دغه نړیوال هوايي ډګر د افغانستان سويلي زون کې موقعيت لري، نو د هېواد شمال له مرکز او نورو ولايتونو سره د نښلېدو مهمه نقطه ګڼل کېږي، له همدې امله ځانګړی سياسي، اقتصادي او فرهنګي ارزښت هم لري.

## د احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګر له فتحې وروسته

په ۱۴۰۰ل کال کې د اسلامي امارت له فتحې وروسته، د احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګر چارې د مسلکي افغانانو لخوا له نړیوالو معيارونو سره سمې په چټکۍ سره رواني شوې او اوس مهال د څه باندې درې کيلو مترو په اوږدوالي او ۴۵ مترو په پلنوالي ځغاستليکه، همدا راز ۲۳ ټکسوې او ۱۷ رمپونه لري، چې د هر ډول الوتکو لپاره د ګټه اخيستنې وړ دی. په دې هوايي ډګر کې د مسافرو لپاره ډېرې اسانتياوې برابرې شوې دي. د ترمينل ټول څراغونه نوي او عصري سيستم ته اړول شوي دي، په دې ترمينل کې په يوه وخت ۳۰۰۰ مسافر ځايېږي. د مسافرو انتظارخونه په عصري تجهيزاتو سمبال شوې ده، وړيا انټرنېټ لري او د دې ترڅنګ جومات، اوداسه ځايونه، د مسافروړونکو موټرو لپاره پراخ تمځايونه او شنې سيمې برابرې شوې دي، چې مسافرو ته يو ارام او هوسا چاپيريال برابروي او د دې تر څنګ د هوايي ډګر په بېلابېلو برخو کې ۴۰۰۰ تازه نيالګي اېښودل شوي دي او تر ټولو مهمه يې دا چې معياري خدمتونه د افغانانو لخوا پر مخ وړل کېږي.



احمدشاه‌بابا نړیوال هوايي ډګر چې د افغانستان په پرمختګ او د نړیوالو اړیکو په برخه کې مهم رول لري، اوس مهال د نړۍ بېلابېلو لويو ښارونو لکه: تاشکند، تهران، مشهد، جدې، دوبۍ ... او همدارنګه په هېواد د ننه بېلابېلا هوايي ډګرونو ته ترې منظمې الوتنې ترسره کېږي، چې شمېر يې په اونۍ کې تر دېرشو اوړي او دغه هوايي ډګر په يو وخت د ۲۵۰ بېلابېلو الوتکو د ځايېدو ظرفيت لري احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر په خپلو امنيتي چارو کې هم عصري پرمختګونه کړي دي. د تلاشۍ د برخې لپاره پکې عصري ايکسرې وسايل نصب شوي، چې د مسافرو او توکو چک پروسه په پوره ځيرکتيا او دقت ترسره کوي. د دې ترڅنګ د هوايي ډګر امنيتي کارکوونکي په مسلکي ډول روزل شوي او هر ډول احتمالي ګواښونو ته ځواب ويلی شي.

## د اور وژنې ځانګه او د هوا پېژندنې سټېشن



د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر د اوروژنې يوه فعاله او عصري ځانګه لري، چې د اور لګېدنې له هر ډول پېښو سره د مقابلې توان لري. دا ځانګه په عصري او پرمختللو وسايلو سمبال او کارکوونکي يې په نړيوالو معيارونو برابر او مسلکي روزنه لري. د اوروژنې دا ډله نه يوازې چې دې هوايي ډګر ته چمتوالی لري؛ بلکې له هوايي ډګر څخه د باندې هم د اورلګېدنې پېښې مهاروي، چې دوه ځله يې له هوايي ډګر څخه د باندې د اوروژنې په پېښو کې په عملي ډول برخه اخيستې او د اور په مهارولو کې برياليي شوي دي. د دې ترڅنګ، د هوا پېژندنې سټېشن په بشپړ ډول فعال دی، چې د هوايي چلند لپاره اړين معلومات وړاندې کوي. دا سټېشن د هوا حالاتو په اړه دقيق معلومات برابروي، چې په ترڅ کې يې الوتکو ته د الوتنې لپاره اړين او تازه معلومات وړاندې کېږي. د هوا پېژندنې سټېشن نه يوازې د الوتکو لپاره معلومات وړاندې کوي؛ بلکې د هېوادوالو لپاره هم پر وخت د هوا حالاتو په اړه راپورونه وړاندې کوي. احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر د افغانستان د هوايي چلند د يوه مهم تاريخي او ستراتيژيک ځای په توګه د پام وړ رول لوبولی دی. دغه هوايي ډګر د افغانستان په اقتصادي وده، نړيوالو اړيکو او د هېوادونو په نښلولو کې مهم رول درلودلی دی. د دې هوايي ډګر پرمختګونه د افغانستان د سوداګريزې ودې، نړيوالو بازارونو ته د لاسرسي او د مسافرو د اسانتياوو په برخه کې د يو لوی برياليتوب نښه ده. په کندهار کې د احمدشاه بابا په نوم دا هوايي ډګر اوس له کابل نړيوال هوايي ډګر وروسته د هېواد د دويم نړيوال هوايي ډګر په توګه پېژندل کېږي، چې د ښو خدمتونو په وړاندې کولو سره د افغانستان هوايي چلند روښانه راتلونکي ته لاره هواروي. د دې هوايي ډګر فعاليتونه نه يوازې د افغانستان دننه بلکې نړيوالې ټولنې ته هم د هېواد په مهم ستراتيژيک اهميت باندې دلالت کوي.



# هغه پښتون واکمن چې سرکونه جوړ یې ارمان و

نورالله غازي

کابو پنځنیمسوه کاله پخوا چې پر هند د پښتون واکمن سلطان بهلول واکمني وه، ابراهیم لودي او زوی یې میا حسن هندوستان ته وکوچېدل، ابراهیم لودي له دې وړاندې د غزني سیمې او هند تر منځ د آسونو سوداګري کوله، دا هغه له ګټې وټې ډکه سوداګري وه، چې له واکمنۍ وړاندې سلطان بهلول هم کوله. دا چې پر هند د پښتنو واکمني وه، نو ابراهیم هم وغوښتل چې په هند کې مېشت او دلته خپلې رېښې پسې وغځوي، هلته د سکندر لودي په پوځ کې داخل شول او د هند په بیهار او سهسرام کې جایداد او ځمکې ورکړل شوې. دا سیمه دوی ته اشنا وه او نور پښتانه هم پکې مېشت وو. په ۱۴۸۶ز کال د حسن مشرې ښځې چې پښتنه وه، یو ماشوم پیدا شو چې نوم پرې فریدخان کېښودل شو. په ماشومتوب کې هوښیار او ځیرک و، ده به په پوځي چوڼیو کې بېلابېلو خلکو ته په حیرانۍ کتل او پر ده یې ژور اغېز کاوه او له پوځي چارو سره یې مینه زیاتېده.

د فرید پلار حسن څلور میرمنې درلودې، دی چې تنکی ځوان و، په کور کې یې د جنجالونو او ناندریو له کبله زړه تنګ شو او له دې ځایه جون پور ته ولاړ، هلته یې په یوه دیني مدرسه کې دیني زده‌کړې پیل کړې، عربي صرف و نحوه یې ولوستل او د تاریخ او فلسفې کتابونه یې مطالعه کړل، دا د ده لپاره داسې دوره وه چې د ده په شخصیت یې ژور اغېز وکړ، وروسته یې بېلابېلې ژبې زده کړې او پر دې سربېره یې د ریاضي علم هم زده کړ.

له دې وروسته بیا د سلطان محمد په پوځ کې داخل شو، چې د بیهار واکمن و. ویل کېږي چې یوه ورځ سلطان محمد د ښکار او تفریح لپاره کوم ځنګل ته تللی و، فرید یې هم له ځان سره بېولی و، ویل کېږي چې ناڅاپه یې مخې ته زمري راټوپ کړ، چې فرید د تورې په یوه ګوزار ځای پر ځای کړ. فرید له دې پېښې وروسته په شېرشاه مشهور شو، شیرشاه ته وروسته د بابر له خوا د بیهار ټول واک وسپارل شو.

دی د زده‌کړې پر اهمیت پوه و، په ۱۵۲۰ز د خپل نیکه ابراهیم چې د پنجاب په نارنال کې ښخ و، له مقبرې سره په خوا کې یوه لویه او شانداره مدرسه جوړه کړه او د روپۍ توری د شېرشاه له وخته د پیسو لپاره

وکارول شـو او د روپۍ په نوم لومړۍ سـیکه د شېرشاه له نوم سره هغه وخت په بهار کې ضرب شوه، چې ده لا د هند پوره واک هم نه و ترلاسه کړی.
سیرشـاه سوري چې په بیهار کې یې ښه قوت ترلاسه او خلک یې پر ځان راټول کړل، د بابر زوی همایون پر وړاندې یې جګړه پیل کړه او په ۱۵۴۰ ز کال د ۶۴ یا ۶۵ کلونو په عمر د هند پاچا شو او خپله واکمني یې له اټکه تر بنګاله وغځوله.



ده په خپله واکمنۍ کې تر ټولو ډېر پام د سـړکونو جوړولو او مسـافرو ته د اسـانتیاوو پر برابرولو وکړ.
شیرشاه چې په جګړه او زړه ورتوب کې یې ځانګړی شهرت او پوهه درلوده، یو دم په یو ډېر مهربان پاچا بدل شو، داسې پاچا چې د هندوستان ټولو وګړو ته یې خپله غېږ پرانیسته، لکه د ده په واکمنۍ کې ټول خلک چې د ده د کورنۍ غړي وي. له درباره یې هیڅوک بې نوا او تش لاس نه ایسـته، د غریبانو لپاره یې لنګر درلود، چې ګڼ شمېر کسانو پکې خپلې ګېډې مړولې.
دی چې پاچا شـو خپلو پوځیانو ته یې د میاشتې معاش سیسټم رامنځته کړاو جنرالانو ته یې لوړه تنخوا ورکولـه، همـدا لامل و چې پوځیان یې په هر حالت کې د باور وړ پاتې شـول او دی لومړی پاچا و چې په هند کې یې فساد او د خپلوۍ پاللو مخه ونیوله.
د ده په واکمنۍ کې په لومړي ځل ځمکه کچ یا اندازه کړای شوه او د ځمکې د حاصلاتو په سر یې مالیه وټاکله، کومو ځمکو چې حاصل کم کاوه، پر هغو یې مالیه معاف کړه. ده د سوداګریزو مالونو د ګمرک او محصول اخېستو کار پیل کړ، چې له دې سره دولتي خزانه رامنځته شوه.

د شېرشــاه تر ټولــو مهم کارونه چې دی یې ډېر مشــهور او تر اوســه یې د خدمتونو ســتاینه کېږي، د ســړکونو جوړول وو، د ده تر ټولو لوی او مهم ســړک د هند تر ټولو لوی ســړک یا جي ټي روډ و، چې له بنګاله تر افغانســتانه غځېدلی و. دا ســړک دوه زره پينځه ســوه کلومتره اوږد و، چې د شېرشــاه جرنېلي ســړک په نوم يادېده او د کلکتې، بنارس، اله اباد، کان پور، ډيلي، امرتسر، لاهور او پېښــور ښارونه يې سره نښــلول. د دې لارې د جوړېدو پيل شېرشــاه سوري په ۱۵۳۳ز کال له بنګاله پيل کړ. دغه سړک چې د شيرشاه سوري تر ټولو لويه لاسته راوړنه ګڼل کېږي، د منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او ختيځې اسيا ترمنځ د ســوداګرۍ، کلتوري تبادلې او نظامي تحرکاتو په برخه کې ســتر ارزښــت درلود، په هغه وخت کې چې ســمندري لارو لا اهميــت نه و پيدا کړی او د ســوداګريزو توکو لېــږد رالېږد د حيواناتــو پر مټ کېده، شيرشاه ســوري غوښتل چې سوداګري پسې وغځوي او له نورو هېوادونو سره خپلې هر اړخيزې اړيکې وپالي.

ده د پخوانيو ســړکونو د بيا جوړولو او پراخولو امر هم وکړ. دا چې په هغه وخت کې ځمکو ډېر ارزښــت درلــود، د ډېرو لانجو سره سره هم شيرشــاه پــه دې وتوانېده، چې خلک دې تــه راضي کړي چې په خپلو ځمکو کې شــل متره سړک ومني. شيرشاه د دې تر څنګ نور هم ډېر سړکونه جوړ کړل او ډېر ښارونه يې سره ونښلول. ده د جوړو کړو لارو په اوږدو کې شاوخوا ۱۷۰۰ کاروان سرايونه جوړ کړل، چې د هندو او مســلمانو مسافرو لپاره يې د خوړو او پاتې کېدو بېل بېل انتظام برابر شوی و. په هر سرای کې مجهزې خونې موجودې وې، چې د خوب چپرکټ او نور امکانات يې درلودل.

د لويو لارو د ســاتنې لپاره هم ترتيبات نيول شــوي وو، د هر کلي مشر ته ويل شــوي وو، که د دوی په سيمه کې غلا يا لوټماري وشي او مجرم معلوم نه شي، بايد د نږدې کليو مشر ونيول شي او د اوښتې زيان تلافي ترې ترلاســه شي، که چېرې يې د مجرم په پيدا کولو کې مرســته وکړي؛ نو بيا به ورته ســزا نه ورکول کېږي. د دې تر څنګ يې وسلهوال ځواکونه هم ګمارلي وو، چې د مسافرو لپاره امنيت وساتي او په هر سرای کې به دوه زين کړي اسونه تيار د دې لپاره ولاړ وو، چې پوست، ليکنې او خبرونه له يو سرای نه بل ته په چټکۍ سره ولېږدوي.

د لويو لارو د ســاتنې لپاره هم ترتيبات نيول شــوي وو، د هر کلي مشر ته ويل شــوي وو، که د دوی په سيمه کې غلا يا لوټماري وشي او مجرم معلوم نه شي، بايد د نږدې کليو مشر ونيول شي او د اوښتې زيان تلافي ترې ترلاســه شي، که چېرې يې د مجرم په پيدا کولو کې مرســته وکړي؛ نو بيا به ورته ســزا نه ورکول کېږي. د دې تر څنګ يې وسلهوال ځواکونه هم ګمارلي وو، چې د مسافرو لپاره امنيت وساتي او په هر سرای کې به دوه زين کړي اسونه تيار د دې لپاره ولاړ وو، چې پوست، ليکنې او خبرونه له يو سرای نه بل ته په چټکۍ سره ولېږدوي.

شېرشــاه ســوري د اړيکو په ارزښــت هم پوهېده او جدي پاملرنه يې ورته کوله، ده په جوړو کړو لارو يا سړکونو کې د اتو ميلو په اندزه کې يو منار جوړ کړی و، چې هم يې واټن معلوماوه او هم دا هر يو منار يوه پوســتخونه وه، چې خلکو د حکومت سره د فاصلې د لنډولو او د اړيکو نېولو او نورو ورته اړتياوو لپاره ترې ګټه پورته کوله او ۳۴۰۰ اضافي اسونه يوازې دې ته چمتو کړي وو، چې هره ورځ يې د ولايتونو خبرونه تر ده پورې رسول.







**شېرشاه سوري د عمر په اخېر کې وويل چې څو ارمانونه لـرم، خو فکر کوم چې زمـا په ژوند به ترسره نه شي، يو ارمان مې دا دی چې پښـتانه له غـرو رغو راښـکته کـړم او د پنجـاب او نور هوارو سـيمو کې مېشـت شي، چې پرمختګ وکـړي او د نورو سـيال شي او بل تر ټولو لوی ارمـان مـې دا دی، چې زما تر سـلطنت لاندې هرې بانډې او هر کلي او ښـار ته سـړکونه تېر کړم او وروسـته تر مکې معظمې پورې داسې سـړک وغځوم، چې پر مسير يې ټولو مسافرو ته سرايونه او اسانتياوې برابرې وي....**

**لکه څنګه چې ده ويلي وو، دا ارمانونه يې پوره نهشـول او په ۱۵۴۵ز کال د مې مياشتې په ۲۲ نېټـه د جمعې په ورځ د راجپوتـو د کلنجر کلا د محاصرې پر مهال سـخت ټپي او وروسـته يې خپـل سرګردان روح الله (ج) ته وسـپاره او له دې سره په هند کې د ده څه باندې پنځه کلن برياله سلطنت پای ته ورسېد.**

---


اخېستنې:

۱ ـ حليم، صفيه. د هندوستان پښتانه (بهار). دانش خپرندويه ټولنه. ۲۰۱۰ز.

۲ ـ صمد، نثار احمد. د شيرشاه سوري څو قصې. بېنوا ويبپاڼه. ۲۲/۵/۲۰۱۳. https://www.benawa.com/pashto/print.php?id=55230

۳ ـ حليم، صفيه. شيرشاهي سړک. د دې خپله ويبپاڼه. ۱۹/۶/۲۰۱۸. https://www.safiahaleem.com/?p=5411

۴ـ مرزا اے بی بیگ. شیر شاہ سوری: وہ افغان سردار جس نے مغلوں اور افغانوں کی کمزوریاں جان کر ہندوستان پر راج کیا. بی بی سی اردو. ۲۲/۵/۲۰۲۲. http://tiny.cc/hq6lzz

۵ – سيستانی، کانديد اکادميسن اعظم. شيرشاه شوری و اعاده عظمت پشتونها در هند. افغان جرمن ويبپاڼه. ۱۲/۰۶/۲۰۱۶. http://www.afghan-german.com





# موقعیت جغرافیایی افغانستان
# ارزش و اهمیت اقتصادی میدان‌های هوایی

پوهیالی محمد قیس عصمتی
استاد اقتصاد در اکادمی ملی نظامی حضرت معاذ بن جبل (رض)

## چکیده:

همان‌گونه که رگ‌های خون در بدن نقش حیاتی دارد، راه‌های ترانزیتی برای حیات اقتصادی کشور همان نقش را ایفا می‌کند. در اصطلاح اقتصادی (راه) وسیله جابه جایی ثروت به شمار می‌رود چه راه‌های زمینی است وچه مسیرهای هوایی.

امروزه برخی از کشورها با استفاده از موقعیت ترانزیتی کشورشان، بخش عمده‌ی درآمد خود را از طریق اخذ عوارض عبور و مرور کالا و مسافر خارجی کسب می‌کند. که خوشبختانه‌در کشور عزیز ما افغانستان امارت اسلامی به‌آن توجه خاص نموده‌است.

حالا سوال اینست که‌آیا افغانستان می‌تواند، از موقعیت جغرافیایی خود به عنوان ابزار توسعه استفاده کند؟ آیا صنعت حمل‌ونقل هوایی در هر منطقه و کشوری جنبه‌ی استراتژیک دارد؟ به منظور نشان‌دادن نقش برجسته‌ی حمل‌ونقل هوایی در میزان رشد اقتصادی کشورها، کدام کشور را می‌توان به عنوان نمونه‌ای مناسب ارائه نمود؟ افغانستان کشوری دارای موقعیت راهبردی است و به ناچار بخشی از راهبردهای نظامی به شمار می‌رود؛ اگر به گونه‌ای راهبردی از موقعیت جغرافیایی خود استفاده کند و وارد عمل شود، می‌توان در مسیر توسعه گام بردارد و گر نه به کانون بحران تبدیل می‌شود. افغانستان می‌تواند با استفاده از موقعیت جغرافیایی خود در تولید ثروت، قدرت و ارتقای خویش در جامعه‌ی بین‌الملل از آن استفاده کند.

واژه‌گان‌کلیدی:افغانستان، موقعیت جغرافیایی، اقتصاد، توسعه

میتود تحقیق: در این تحقیق از میتود کتابخانه‌ای استفاده به عمل امده است.

## مقدمه:

یکی از عناصر موثر بر اقتصاد و سرنوشت سیاسی هر کشور، (موقعیت) و (مکان جغرافیایی)آن است. موقعیت جغرافیایی ناظر بر چگونگی محل استقرار مکان‌های جغرافیایی است. موقعیت جغرافیایی مشخص می‌نماید که یک منطقه‌ی خاص در کجا واقع است و از چه مزایایی بهره‌مند بوده واز چه کمبودهای رنج می‌برد و با چه مناطقی هم‌جوار است. از دیدگاه جغرافیا دانان سیاسی، قدرت هر کشور به شدت از ژوپلیتیک و موقعیت جغرافیایی آن تأثیر می‌پذیرد.

موقعیت جغرافیایی یا مناسب است یا نا مناسب. در عرصه‌ی بین‌المللی، موقعیت جغرافیایی مناسب و وجود انسان‌های فعال و ماهر و سیاستمداران زیرک که بتوانند از موقعیت جغرافیایی در راستای منافع ملی استفاده کنند، می‌تواند عامل موفقیت باشد. در مقابل، بی اعتنایی به وضعیت جغرافیایی، عامل بحران ژئوپلیتیکی به شمار می‌رود. نمونه آن کشور ترکیه است که از موقعیت خود استفاده‌ی مناسب برده است. ترکیه، از موقعیت جغرافیایی خود به عنوان ابزار باز سازی اقتصاد رو به افول دهه‌های گذشته استفاده نموده و به کمک این موقعیت، اقتصاد خود را رونق داده و جایگاه خود را در عرصه‌ی معادلات منطقه‌ای و بین‌المللی تقویت کرده است.

تاریخ طولانی کشور، نشان از بهره‌برداری تاریخی از موقعیت جغرافیایی قلمرو افغانستان در مبادلات تجاری و خدمات بازرگانی دارد و راه ابریشم بیش از ۱۵۰۰ سال زمینه‌های بهره‌برداری از موقعیت جغرافیایی کشور و درآمدزایی ملی را فراهم آورده بود. طبعاً امروزه نیز برای توفیق در برنامه‌های رشد و توسعه‌ی اقتصادی، چاره‌ای جز استفاده‌از مزیت نسبی یا بهره‌برداری از موقعیت جغرافیایی کشور باقی نمانده‌است.

## موقعیت ستراتژیکی افغانستان

افغانستان با بیش از ٦٥٠ هزار کیلومتر وسعت (محصور در خشکه) در جنوب آسیا قرار دارد و جز کشورهای خاورمیانه محسوب می‌گردد.

سرزمین کنونی افغانستان به مثابه‌ی بخشی از آریانای بزرگ و خراسان تاریخی ازلحاظ موقعیت جغرافیایی و جیوپولیتیک خود در یکی از مهمترین چهار راه‌های تبادله فرهنگ، بازرگانی، بستر مهاجرت‌های گسترده‌ی مردمان آسیا مرکزی، تهاجمات و جهانگشایی‌ها از اهمیت به سزایی برخودار است.

ساختار جیوفزیکی این سرزمین در گره‌گاه مسیرهای تجارتی کاروان‌های ابریشم با توجه به موقعیت کوه‌های صعب‌العبور تیان‌شان و همالیا در شرق کوتاه‌ترین راه توصل بین آسیای میانه تا نیم قاره‌ی هندوستان، سرزمین حوزه مدیترانه و ایران با چین، و کشورهای جنوب‌شرق آسیا را به وجود آورده است. درک و تحلیل واقعی این موقعیت می‌تواند به همگرایی و تساند دوستانه‌ی کشورهای منطقه کمک به سزایی نماید. افغانستان سرزمین است کوهستانی در قلب آسیا و در آسیای میانه که بین تعدادی از



کشورهای همسایه محصور مانده و به دریای آزاد راه ندارد.
افغانستان بین ۲۹ تا ۳۸ درجه عرض جغرافیایی و بین ۲۹ درجه و ۳۰ دقیقه و ۳۸ درجه و ۳۰ دقیقه عرض شمالی و ٦۰ درجه ۳۰ دقیقه و ۷۵ درجه و ۵۰ دقیقه طول شرقی نصف‌النهار گرینویچ واقع شده است.
افغانستان قلب تپنده‌ی آسیا است که در ساحه‌ی کشورهای آسیای مرکزی و شرق میانه قرارداشته و بیشتر سرزمین آن کوهستانی بوده وهمان‌طور که ذکر گردید افغانستان محصور به خشکه بوده و به دریا راه ندارد. کشور افغانستان در حوزه‌ی ترانزیت به علت دارا بودن مزیت‌های چهارگانه‌ی منابع انسانی، منابع انرژی، ذخایر معدنی و موقعیت ممتاز جغرافیایی از نظر قرار گرفتن در مرکز هارتلند جدید، همسایگی با شش کشور و دسترسی‌های راهبردی، موقعیتی ممتاز دارد. افغانستان انتهای خاورمیانه است و آغاز خاور دور، پل و معبر اتصال آسیای جنوبی به جنوب‌شرق آسیا و آسیای مرکزی است. و برای تحقق مبادله و ترانزیت کالا، نقش بسیار پراهمیتی می‌تواند ایفا کند و از این مزایا در راستای افزایش درآمدهای ارزی و تولید ثروت و ارتقای موقعیت استراتیژیک خود در منطقه به نحو مطلوب استفاده نماید، اما هنوز فاصله‌ی زیادی تا به دست آوردن جایگاه مناسب کشورمان در بازار حمل‌ونقل بین المللی وجود دارد. بهره‌مندی از فرصت‌های موجود مستلزم وجود عناصر لازم در یک حمل‌ونقل مناسب بین‌المللی همچون سرمایه‌گذاری‌های مناسب و کارآمد در توسعه‌ی راه‌ها و زیربناها، اقتصادی بودن مسیر، سرویس‌دهی، بهینه در مسیر، تعرفه‌ی قابل رقابت با سایر مسیر های موجود، تسهیل مقررات و امکانات حمل‌ونقل در مرزها است. هنوز در افغانستان ما با کمبود راه های ارتباطی و معیاری و استاندارد مواجه هستیم. این در حالی است که یک ضرب المثل چینی است که می گوید: (اگر می‌خواهی به سعادت برسی، اول از همه به‌فکر ساختن جاده باشد). محاط بودن افغانستان در خشکی، این کشور رادر زمینه‌ی ترانزیت و حمل‌ونقل کالاهای مورد نیاز به مشکل مواجه ساخته است و کشورهای ایران و پاکستان (در سال های ۱۹۴۹ و ۱۹٦۱ میلادی بندر کراچی بر روی افغانستان بسته شد). با دیپلماسی تهدید ترانزیتی، افغانستان را بارها در تنگنا قرار داده اند.
با توجه به این که‌افغانستان، کشور است محصور در خشکی، با پیدا کردن راه‌های بدیل (جاده ابریشم و راه لاجورد) ایران و پاکستان نه‌تنها می‌توان وابستگی افغانستان را نسبت به این کشورها کم نمود؛ بکله می‌توان از آن به‌عنوان پل زمینی و حلقه‌ی وصل کشورهای همسایه و منطقه استفاده نمود. (راه لاجورد) مسیر جدیدی است که می‌تواند یکی از این راه‌های بدیل برای رهایی از خفگی و بن‌بست افغانستان باشد. این مسیر، افغانستان را از طریق ترکمنستان، آذربیجان و گرجستان به دریای سیاه و بعد با گذشتن از ترکیه به‌آب‌های آزاد و اروپا وصل می‌کند. این راهی است که‌حدود دو هزار سال قبل، لاجورد بدخشان در شمال‌شرق افغانستان، از این مسیر به اروپا صادر می‌شده است.



قسمت عمده‌ی اراضی این کشور را برجسته گی‌ها پوشانیده است. از شرق به‌غرب و حوزه‌ی جنوب غربی به‌تدریج از ارتفاع متوسط زمین کاسته می‌شود و در ساحه‌ی هرات به زمین‌های هموار منتهی می‌گردد.

وسعت افغانستان حدود ۶۵۲۲۲۵ کیلومتر مربع است. بلندترین کوه‌های افغانستان در کوهستان های شمالی و مرکزی (هندوکش) است که بلندترین قله‌آن تا ۷۴۲۱ متر ارتفاع دارد. کشورهای هم سرحد با افغانستان: پاکستان (۲۴۳۰ کیلومتر)، تاجیکستان (۱۲۰۶ کیلومتر)، ایران(۹۴۵ کیلومتر)، ترکمنستان(۷۴۴کیلومتر)، ازبکستان ( ۱۳۷ کیلومتر) و چین(۷۶ کیلومتر) مرز مشترک دارد.

در نخستین مراحل تهاجمات و جهانگشایی‌ها امپراتوران بزرگی چون: کوروش و داریوش هخامنشی، آشوکای موریایی هندی و اسکندر مقدونی در سده‌های پنجم تا سوم پیش از میلاد از این گذرگاه به صوب شمال و جنوب عبور کرده‌اند و از موقعیت مرکزی و سوق‌الجیشی آن بین آسیای میانه (ماورا النهر) و هند به حیث یک قرارگاه جنگی استفاده نموده اند. در عصرهای بعدی همچنان در مسیر فتوحات سپاهیان اسلام و حملات غارتگرانه‌ی چنگیزیان (مغول‌ها) و ترکان (امیرتیمورگورگانی) و سایر مراکز قدرت‌های منطقوی قرار گرفته است.

پس از سال ۱۴۰۵ میلادی و با فروپاشی دولت تیموریان هرات خراسان بزرگ در چهارچوب افغانستان امروزی مورد مداخلات گسترده‌ی همسایه‌گان قرار گرفت. ظهور سه امپراطوری بزرگ یعنی:

اول: دولت شیبانی (جنیدی) در ماورالنهر؛

دوم: دولت صفوی‌ها در ایران؛

سوم: دولت گورگانی‌های مغولی در هندوستان؛ در همسایه‌گی افغانستان، این کشور را به صحنه‌ی منازعات افزون خواهی این قدرت‌ها تبدیل نمود و عملاً همسایه گان هر کدام بر مناطق مجاور خود در حوزه خراسان بر ولایات شمالی و مرکزی، شرقی و غربی کشور فرمان می‌راندند و نماینده‌گان خود را به اداره‌ی امارت‌های محلی این مناطق می گماشتند.

ازاین موقعیت استراتیژیکی به حیث پایگاهی در کارزار رقابت‌های سیاسی خود استفاده می‌کردند که چنین رقابت‌ها به صورت متوالی و ممتد تا قرن‌های شانزدهم، هفده‌هم و هجده‌هم ادامه یافت.

با مرگ نادرشاه افشار، شاه ایران که درسال ۱۷۴۷ امپراتوری بزرگ او دچار فروپاشی و تجزیه گردید، و احمدشاه ابدالی نخستین سنگ‌بنای دولت محلی خود را که به نام افغانستان مسمی گردید، در قندهار گذاشت.

بررسی روند بغرنج و پیچیده‌ی ناشی از رقابت‌های توسعه طلبانه‌ی همسایه گان و تأمین روابط سیاسی کشور با آنها و مطالعه‌ی گزینش هنجارها و ناهنجاری‌های دولت‌های افغانستان مبنی بر تعقیب سیاست داخلی و خارجی آنها همه و همه ایجاب می‌نماید تا سلسله مراتب تاریخی آنها را به درستی بدانیم و از آنها نتایجی را در آسیب شناسی کشور و علل و عوامل تنش‌های متواتر سیاسی، نفاق وعقب مانده‌گی به مثابه‌ی منبع چالش‌های جاری افغانستان استخراج نماییم.

## موقعیت جغرافیایی افغانستان، هاب هوایی و تولید ثروت

ارزش و اهمیت میدان‌های هوایی در دنیای امروز به حدی است که برخی کارشناسان، میدان‌های هوایی را (لوکوموتیو اقتصادی) هر کشور توصیف می‌کنند و آن را عامل رشد اقتصادی و توسعه‌ی پایدار هر منطقه می‌دانند.

امروزه بهترین مسیر، امن‌ترین‌راه، سریع‌ترین و سالم‌ترین وسیله‌ی حمل‌ونقل با رعایت حداقل زمان و هزینه، همه سبب توجه به‌حمل‌ونقل هوایی شده‌است. صنعت حمل‌ونقل هوایی در هر منطقه و کشوری جنبه‌ی استراتژیک دارد. به‌همین خاطر بسیاری از کشورها سعی دارند با برنامه‌ریزی و سرمایه گذاری، میدان‌های هوایی خود را توسعه‌ومجهز نمایند و با ارائه‌ی خدمات خوب، شرکت‌های هوایی و مسافران را به‌سوی خود جذب نمایند.

افغانستان‌باوجود برخورداری از منابع بالقوه‌و موقعیت جغرافیایی مناسب، به عنوان کوتاه‌ترین کریدور هوایی میان‌شمال‌وجنوب‌وشرق‌وغرب‌آسیا و اروپا که می‌تواند اثرات عمیقی برتحولات سیاسی- اقتصادی حوزه‌های وسیعی همچون آسیای مرکزی، شبه‌قاره و اقیانوس‌هند، شرق آسیا، بین‌النهرین و آناتولی وارد کند، تا اکنون از توسعه در این صنعت و منافع اقتصادی حاصل از آن محروم بوده و جابه‌جایی بار و مسافر آن درحال‌حاضر در حد میدان‌های هوایی کوچک منطقه هم نیست.

خوشبختانه افغانستان، با روی کار آمدن امارت اسلامی مانند کشورهای پیشرفته و در حال توسعه دارای یک دیدگاه‌کلان اقتصادی و یک سیاست مستمر و پیگیر در سطح بالا بوده‌که این مسئله موجب استفاده بیشتر امکانات وفرصت‌ها شده است. که در این مدت زمان حاکمیت امارت اسلامی بیش از صد شرکت ترانسپورتی[1] زمینی با شرایط و طرزالعمل های مشخص جواز فعالیت توزیع شده است. و جواز فعالیت بیش از صدها شرکت ترانسپورتی در حال طی مراحل می باشد. طرح ( یک کمربندویک راه) که بخشی از راه ابریشم است، یک طرح بلند پروازانه و دهلیز اقتصادی چین – پاکستان است، به اساس توافق تازه قرار است چین از طریق افغانستان به آسیای میانه وصل شود. همچنین در چارچوب همین برنامه افغانستان از طریق واخان بدخشان به قلمرو چین وصل می‌شود که خود بر اهمیت جغرافیایی افغانستان به عنوان پل زمینی و هوایی و اتصال کشورها صحه می‌گذارد. با یک برنامه کلی و جامع برای ایجاد و ساخت‌وساز در سطح کشور خصوصاً میدان‌های هوایی و برنامه ریزی برای جذب پروازهای عبوری‌ودریافت حق‌العبور، می‌توان از این فرصت‌ها استفاده اعظمی نمود.

به منظور نشان‌دادن نقش برجسته‌ی حمل‌ونقل هوایی در میزان رشد اقتصادی کشورها، کشور امارات‌متحده عربی را می‌توان به عنوان نمونه‌ای مناسب ارائه نمود؛ زیرا اکثر مدیران کشور اعم از دولتی و خصوصی با هواپیما به‌این کشور کوچک مسافرت نموده و از نزدیک با رشد صنعت حمل ونقل هوایی این کشور از منظر یک مسافر ساده و نه یک کارشناس حمل‌ونقل هوایی آشنا شده اند. این کشور کوچک در حال حاضر یکی از بزرگ‌ترین ناوگان‌های هواپیمای جهان رادر اختیاردارد. همه‌ی کارشناسان این صنعت به‌خوبی می‌دانند که تا ۲۰ سال پیش شرکت هواپیمایی امارت جایی در میان

[1] د رحال حاضر به تعداد ۳۴۲ شرکت ترانسپورتی جواز فعالیت توزیع شده

پیشتازان عرصه‌ی هواپیمایی بازرگانی جهان نداشت؛ لیکن در نیمه‌ی دوم مقطع زمانی سال‌های ۱۹۸۰ تا ۲۰۰۰ میلادی، مشاوران انگلیسی دولت امارات با یک برنامه‌ی کوتاه مدت پنج ساله، ابتدا شرکت هواپیمایی امارات و میدان هوایی بین‌المللی دبی را دچار تحولی اساسی نمودند، سپس با برنامه‌میان مدت ۲۰ ساله ابتدا میدان هوایی دبی را به عنوان مرکز نشست و برخاست پرواز های باربری و مجهز کردن آن با پیشرفته‌ترین سیستم‌ها شرکت هواپیمایی امارات را به یکی از وسیع‌ترین خطوط پروازی به اقصی‌نقاط جهان تبدیل کردند که در نتیجه، میدان هوایی دبی به یک هاب هوایی تبدیل شد. میدان هوایی دبی در سال ۲۰۱۴ میلادی، ۲۶ میلیارد دالر درآمد داشت که این رقم معادل ۲۷ درصد تولید ناخالص داخلی آن کشور است.

بنابر این با الگو گرفتن از میدان هوایی دبی و با ایجاد یک طرح کوتاه‌مدت میان‌مدت به فکر انتقال و مکان‌یابی یک میدان هوایی و ایجاد شهرک فرودگاهی در اطراف کابل باشیم که قابلیت توسعه و تبدیل به یک هاب هوایی را داشته باشد. امروز میدان‌های هوایی هاب به مثابه چاه نفتی هستند که ارز تولید می کند و بخش زیادی از تولید ناخالص ملی کشورها را عهده‌دار هستند.

## نتیجه گیری:

- برای جذب بیشتر ثروت از فضای افغانستان می‌توان امنیت پایدار فضای افغانستان را توجه کرد.
- در مورد رفع مشکلات محرومیت حریم پروازی گام برداشت.
- برای نصب رادارهای پیش‌رفته و مصونیت پروازها و قابلیت توسعه‌ی همه جانبه ایجاد کرد.
- می‌توان رغبت شرکت های هواپیمایی برای عبور از فضای افغانستان را ازدیاد بخشید.
- نصب سیستم های مدرن کنترل فضا، در میدان‌های هوایی برای افزایش درآمد را از این طریق افزایش داد.
- برای ارتقاء ظرفیت کارکنان میدان های هوایی و ارائه‌ی خدمات خوب و بهتر گام برداشت.
- افغانستان می‌تواند به شکل یک پل ارتباطی میان چین واروپا و آسیای مرکزی با جنوب آسیا باشد.
- افغانستان می‌تواند مواد معدنی مورد نیاز کشورهای همسایه و غول های اقتصادی منطقه؛یعنی چین و هند را از طریق صادرات میدان‌های هوایی و خط آهن تأمین نماید.
- پروازها از میدان‌های هوایی با امکانات مناسب می‌تواند نقشی عمده در توسعه‌ی مناطق و اعمار پروژه‌های زیربنایی در کشور داشته باشد.
- هاب هوایی می‌تواند برای هزاران نفر، چه درجریان ساختمان پروژه‌های خطوط و چه بعد از آن در جریان پرواز ها شغل ایجاد کند.
- توسعه میدان های هوایی می تواند بر میزان تولیدات اثر بگذارد و از این طریق بازار های افغانستان با بازار های منطقه و جهان وصل خواهد شد.

## منابع و مأخذ:

۱- عظیمی، محمد عظیم؛ جغرافیای افغانستان و فرصت های ثروت سازی، نشر نگار، چاپ سال۱۳۹۷

۲- احمدی، میر هارون؛ جغرافیای افغانستان، انتشارات نویسا، چاپ سال ۱۳۹۶

۳- د ټرانسپورت او هوايي چلند علمی، معلوماتی، فرهنگی مجله ۳ گڼه ۱۴۰۲ کال.



# د نوح(ع) کښتۍ تر اوسنۍ ټکنالوژۍ

مفتي عزیزالرحمن " عزیزي "

لـه ادمه تـر دې دمه که چیرې د ژوند چارو تـه وکتل شي په ژوند کې هر څه ته اړتیا پیښـیږي؛ خوراک، څښـاک، کلی، کور، حضر، سفر، تگ راتگ... او همدارنگه داسې وسیلې ته چې د سفر او سوداگریزو توکو په لېږد کې ترې کار واخېسـتل شي او په هر دور کې د سـفر خپله وسیله وي، د وچې لپاره اوښ، اس، خر ... او د بحر لپاره کښـتۍ. هغه کښـتۍ چې لومړۍ اختراع یې نوح علیه السلام د الله(ج) په امر ترسره کړه. کښتۍ د اوږده سفر لپاره یوه غوره وسیله بلل کېږي.

دا چې پیل یې نوح علیه السـلام وکړ، وروسـته د ټکنالوژۍ او برېښـنایي الاتو په پرمختگ سره هر څه بدلون وکړ، د سـفر لپاره نوي موټرونه، اورگاډي او د فضا لپاره الوتکې؛ نو د کښـتیو په جوړښت کې هم بدلون راغی.

د کښتۍ په اړه عجیبه دا ده چې څو ټنه وزن لېږدوي، مگر ډوبېږي نه، یوه وړه اوسپنه پرته له ځنډه اوبه ډوبوي، خو دومره لویه او وزني کښتۍ د اوبو پر سر روانه وي. په دې سره الله تعالی ﷻ ستر قدرتونه خپلو بنده گانو ته په بېلا بېلو ډولونو سره څرگندوي

أَ لَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ لِيُرِيَكُمْ مِنْ آيَاتِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ

[سُورَةُ لقمَان : ٣١]

ژباړه: «ایا ته نه وینې چې په سـمندر کې کښـتۍ د الله په فضل سره چلېږي، تر څو چې هغه تاسـې ته خپلې ځینې نښانې در وښیي. په باوري توگه، په دې کي د هر هغه چا لپاره ډېرې نښانې دي چې صبر او شکر کوونکی وي».

څو سوه کاله وړاندې قرآن کریم ویلي: په سمندرونو کې به بېړۍ د غرونو په څېر وي لکه نن یې موږ پر خپلو سترګو وینو چې خورا غټې اوبېدې او څو منزله لوړوالی لري، د لرې څخه د یو غر په څېر معلومېږي، په بحر کې سترې څپې لري او په پوره ارامه توګه مزل کوي:

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنشَآتُ فِى الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ [سُورَةُ الرَّحمٰن : ٢٤]

ژباړه: او دا بېړۍ د همغه دي، چې په سمندر کې د دنګوغرونو په څېر لوړې پورته شوې دي.

الله تعالی ﷻ انسان ته د اسانتیاوو برابرولو په پار په هوا کې الوتکې، په بحر کې بېړۍ او په ځمکه کې حیوانات مسخر کړي دي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ [سُورَةُ الحَجّ : ٦٥]

ژباړه: ایا ته نه وینې چې الله ﷻ ټول هغه څه ستاسي لپاره ایل (تابع) کړي دي، چې په ځمکه کې دي او بېړۍ یې د قانون تابع کړې ده، چې د هغه په حکم په سمندر کې ګرځي راګرځي او اسمان په داسې شان ساتي چې د هغه د اذن (ارادې) څخه پرته په ځمکه نشي را غورځېدلای؟ واقعیت دا دی چې الله ﷻ د خلکو په حق کې ډېر مهربان او نرمي کوونکی دی.

کښتۍ یو داسې لوی نعمت دی، چې د سمندرونو په څنډو پراته هېوادونه او ښارونه سره نښلوي، اوږدې لارې لنډوي او په ځانګړې توګه په ننني پیر کې بېړۍ او کښتۍ د اقتصاد غوره وسیله ګڼل کیږي؛ ځکه چې موټرو ته د سړک جوړولو، غرونو له منځه وړلو او سوري کولو اړتیا وي؛ مګر کښتۍ او بېړۍ له لارو جوړولو پرته دومره مال په خپله سینه کې لېږدوي، چې په لسګونو بارداره موټر ترې ډکېږي.

داسې غوره اختراع چې نوح علیه السلام کړې او دده ملګرو ته یې نجات ورکړ جوړښت یې په داسې ډول و، کله چې الله تعالی نوح علیه السلام ته امر وکړ:

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِى فِى الَّذِينَ ظَلَمُوٓا إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ [سُورَةُ هُود : ٣٧]

او زموږ تر څارنې لاندې، زموږ له ښوونې سره سم د یوې بېړۍ په جوړولو لاس پورې کړه او ګوره، کومو خلکو چې ظلم کړی دی، د هغو په حق کې ما ته څه سپارښت مه کوه، دوی ټول اوس ډوبېدونکي دي.

یو روایت کې داسې ویل شوي دي، چې کله نوح علیه السلام ته جبرائیل علیه السلام راغی، ورته ویې ویل: کښتۍ جوړه کړه، نوح علیه السلام ورته په ځواب کې وویل: زه خو نجار نه یم څنګه یې جوړه کړم؟ جبرایل علیه السلام ورته کړه، الله تعالی ﷻ فرمایي: اصْنَعِ فانک بِأَعْيُنِنَا جوړه یې کړه، ځکه چې ته زما په څار او حفاظت کې یې ( تفسیر خازن سورت هود ۲/ ۴۸۳)

د ابن عباس رضی الله عنه روایت دي، چې ابن عساکر رانقل کړی دی، وایي: کله چې د الله تعالی له لورې نوح علیه السلام ته امر وشو چې کښتۍ جوړه کړ؛ نو نوح علیه السلام ورته وویل: لرګي چیرته دي؟ د الله تعالی ﷻ لخوا ورته وویل شول، چې د ساج په نامه بوټي وکره. دې بوټو په شلو کلونو کې وده وکړه او ونې ترې جوړې شوې، بیا ورته رب امر وکړ، چې اوس یې کټ او بیا یې وچ کړه کله چې وچ شول، بیا نوح علیه السلام خپل رب ته وویل یا رب څنګه د لرګیو کور جوړ کړم؟ امر ورته وشو چې له دریو شکلونو څخه یې اختراع کړه د کښتۍ سر او شا یې د چرګ د سر او لکۍ په څېر او منځ یا سینه یې د مرغۍ په څېر جوړه او په څو پوړونو کې جوړه کړه او دروازې یې په اړخونو کې ور نصب کړه.

الله تعالی ﷻ جبرئیل علیه السلام ورته راولېږه او د کښتۍ جوړوني زده کړه یې وروښودله، خلکو ورپورې خنداګانې کولې او ویل به یې نوح علیه السلام داسې کوټه جوړوي، چې پر اوبو به مزل کوي، سره له دې چې اوبه شتون نه لري( الدر الماثور التفسیر بالماثور )

په روایت د زید بن اسلم سره راغلي وايي: نوح علیه السلام د سلو کلونو په موده کې د بوټو کرنه، کټ کول او وچول وکړل او سل کاله یې د کښتۍ پر جوړولو کار وکړ ( تفسیر القرطبي سورت هود )

په جوړښت کې یې مفسرین یوه خوله نه دي، بلکې بېلابېل روایتونه موجود دي.

ابن عباس رضی الله په وینا د کښتۍ اوږدوالی درې سوه متره، پلنوالی پنځوس او ژوروالی یې دیرش متره و( تفسیر القرطبي سورت هود )

کښتۍ او بېړۍ اوس په نړۍ کې یو غوره او اړین صنعت دی، چې په اوسني پېر کې د اقتصاد غوره وسیله ګڼل کېږي، د ټکنالوژۍ له پرمختک سره بېړۍ او همداراز چټکو تلونکو بېړیو نن ټوله نړۍ سره نښلولې او په خورا کم لګښت د ډېرو وزنونو لېږد رالېږد کوي.

باید موږ هم د خپلو سیندونو لپاره وړې کښتې جوړې او د ملت لپاره د هوساینې او تګ راتګ، د خلکو او توکو د لېږد لپاره غوره وسیله وګرځوو.

# داسې الوتکه چې په لمریزه برېښنا به چلېږي

سویس کې د سولر سټریټوس (SOLAR STRATOS) په نوم یو شرکت د لمریزې برېښنا په وسیله چلېدونکې الوتکه جوړه کړې چې د نورو الوتکو په څېر مسافر او توکي لېږدولی شي او له ځمکې څخه د لس زره مترو په لوړوالي الوتنه کوي. دا پرمختګ د ارزانه هوايي سفرونو لپاره لاره هواروي او د سون توکو په لګښت کې سپما رامنځته کوي. د دغه شرکت بنسټ ایښودونکی رافیل دومجان (Raphaël Domjan) وايي چې غواړي د لمریزو الوتکو په مرسته د سوداګریزو الوتکو په لګښت کې ستر بدلون راولي او په ثانیه کې ۳۰۰ ټنه سون توکي وسپموي.



# وزا

## د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزا

## کړنې او لاسته‌راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۳ ال کال په دویمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته راوړنې تـرسره شـوې دي، ځینې یې دلته لوستلـی شئ!








- مهمې ناستې او د نړیوالو اړیکو پراختیا
- هوايي ډګرونه د پرمختګ پر لور
  - کابل نړیوال هوايي ډګر کې د بیارغونې چارې
  - په ننګرهار هوايي ډګر کې د بیارغونې چارې
  - د خوست هوايي ډګر پرمختیايي چارې
  - د بامیان هوايي ډګر د ځغاستلیکې د بیارغونې چارې
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند سرپرست هرات ولایت ته سفر ترسره کړ
- واټ ټرانسپورټ
  - د موټرچلوونکو روغتیايي وضعیت کتلو پروسه پیل شوه
  - د خوندي سفر په موخه د سرعت کنټرول روان دی
  - برای جلب و جذب سرمایه‌گذاری خصوصی در سکتور ترانسپورت، پالیسی ساخته می‌شود
  - په کابل کې د بار لېږدولو لپاره څه باندې ۱۷ زره موټر پېژندل شوي
  - د افغانستان او پاکستان تر منځ د لاریو د تګ راتګ لنډمهاله سند وېش







رت ترانسپورت و هوانوردی

# فعالیت‌ها و دست‌آوردها

- د واټ ټرانسپورټ په برخه کې برېښنايي نوښت
- په يوولسو ولايتونو کې د اداري ودانيو جوړول
- نقش هده‌ها در نظم ترانسپورتی شهرها
- په هرات ولايت کې د مسافروړونکي او ټرانزيټي ترمينل په موخه د يوې لويې پروژې پيل
- څه کم ۲۰۰ کارکوونکو ته روزنيز پروگرامونه جوړ شوي دي
- په تېرو دريو مياشتو کې څه باندې ۲۸۰۰ کورنۍ تر خپلو سيمو په وړيا او خوندي ډول لېږدول شوې دي
- د څه کم ۸زره موټرو تخنيکي ارزونه ترسره شوې
- د دريو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او کړنو لنډ خبرونه



# مهمې ناستې او د نړیوالو اړیکو پراختیا

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله احندزاده په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د چین هېواد له سفیر (جاو شینګ) سره د دوه اړخیزو ټرانسپورټي اړیکو پر پراختیا او د الوتنو په ډېروالي او ځینو نورو مهمو موضوعاتو خبرې وکړې.

په ورته وخت کې په کابل کې د قطر سفارت له نوې شارژدافیر ښاغلي (مردف القاشوطي) سره په کابل کې په یوه مهمه ناسته کې د هوايي چلند او کارګو الوتنو په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ په پراختیا خبرې وشوې. ښاغلي القاشوطي وویل چې هېواد یې له افغانستان سره د هوايي چلند اړیکو پراختیا غواړي او په دې برخه کې یې هر ډول همکارۍ ته تیاری وښود.

د لیدنو په لړ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست په کابل کې د قزاقستان هېواد له سفیر (یاسین ګلدییف) سره په لیدنه کې په هوايي چلند، واټ ټرانسپورټ او ټرانزیټي اړیکو پر پراختیا، دوه اړخیزو همکاریو او د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو توکو په اسانه لېږد رالېږد او دې ته ورته موضوعاتو خبرې وشوې.




پر دې سربېره د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت هیئت په قزاقستان هېواد کې د شمال-سوېل ټرانزيټي او سوداګريز دهلېز غونډه کې ګډون وکړ. دا مهمه غونډه چې د بیلاروس، روسیې، قزاقستان، ترکمنستان او افغانستان هېوادونو د ګډ ټرانسپورټي دهلېز د جوړېدو په پار رابلل شوې وه، د پورته یاد شویو هېوادونو ترڅنګ هند، پاکستان، ایرن، عمان، سوریې او د متحده اماراتو هېوادونو د ټرانسپورټ، اوسپنې پټلۍ، سوداګرۍ او نورو برخو مسئولینو یکې برخه درلوده او د دې سفر په ترځ کې محترم وزير صاحب د ترکمنستان، قزاقستان او اذربایجان د ټرانسپورټ له مسئولینو سره هم ځانګړې ناستې وکړې، په دې ناستو کې د سوېل ټرانزيټي او سوداګريز دهلېز په غونډه کې د افغانستان او یادو درو هېوادونو تر منځ د واټ او رېل ټرانسپورټ د پراختیا، د ټرانسپورټي اسانتیاوو د برابرولو د نورو اړوندو مسائلو په اړه ګټورې خبرې وشوې. دا مهمه غونډه چې د ټرانسپورټ او ټرانزيټي اړيکو په پراختیا او پیاوړتیا متمرکزه وه. د اوسپنې پټلۍ او واټ ټرانسپورټ د پراختیا لپاره یکې مهم تصمیمونه ونیول شول. دا ګام د افغانستان لپاره یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي چې له دې لارې به منځنۍ او د سوېلي اسیا له هېوادونو سره ټرانسپورټي اړیکې جوړې کړي.

همدارنګه د دې غونډو په لړ کې له قزاقستان او ایران هېوادونو سره هم په ورته مسائلو پر لیکه ناستې ترسره شوې، د ټرانزيټي او ټرانسپورټي اړيکو پر پراختیا خبرې وشوې.

د دې تر څنګ، د نیمروز ولایت د ټرانسپورټي مسئولینو او د ایران د سیستان او بلوچستان ولایت د ټرانسپورټي چارواکو تر منځ هم د ټرانسپورټي اړيکو د پراختیا په اړه یوه ناسته ترسره شوه، چې موخه یې د باروړونکو موټرو معیاري کول او د ګمرکي او ټرانسپورټي اسانتیاوو رامنځته کول وو.

د دې ناستو په عملي کولو سره به افغانستان د سیمې په کچه په یوه مهم ټرانزيټي او سوداګريز مرکز بدل او د هېواد اقتصاد ته به تازه وده ورکړي. په ټوله کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په دې وروستیو کې د نړیوالو اړيکو پراختیا په موخه مهم ګامونه پورته کړي دي، چې دا اړیکې به د افغانستان سوداګريزو او ټرانسپورټي فرصتونو نوې لارې پرانیزي.




# هوايي ډګرونه د پرمختګ پر لور

پــه تېرو څو میاشــتو کې د افغانســتان په بېلابېلــو هوايي ډګرونــو کې د مهمــو پرمختګونو او اســانتياوو جوړېدو چارې ترسره شــوې دي. دا پرمختګونه په تخنیکي او عملي برخو کې مثبت اغېز لري او د مسافرو لپاره د لا غوره خدمتونو په وړاندې کولو کې هم د پام وړ ونډه لري.

## کابل نړیوال هوايي ډګر کې د بیارغونې چارې

د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرســت الحاج ملا حمیدالله اخندزاده، د اقتصاد وزارت سرپرست الحــاج قاری دین محمد حنیف او د یو شــمېر نــورو ادارو لوړپوړو چارواکو پکې ګــډون درلود، په کابل نړیــوال هوايي ډګر کــې د ۳۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښــت د یوې درې پوړیزې ودانۍ د بنســټ ډبره کېښودل شوه.

دا ودانــۍ چې په ۳۹۰۴ مربع متره ځمکه کې جوړېږي، د مســافرو لپاره به پــه نړیوال معیار انتظارځای، رســټورانټ، میلمســتون، روغتیايي کلینیک، د غونډو تالار، د موټرو تمځای او نورې ګڼې اســانتیاوې ولري، چې د اتلسو میاشتو په موده کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. سربېره پر دې په کابل نړیوال هوايي ډګر کې دوه جوماتونه هم ګټې اخیســتنې ته وسپارل شــول، یو یې په هوايي ډګر کې د څه کم پنځه‌میلیونه افغانیو په ارزښــت، چې سل کســان پکې ځایېږي او بل یې په نړیوال ترمینل کې د بي بي عایشه(رض) په نوم د دوه‌میلیونو افغانیو په ارزښت جوړ او د وزارت د یو شمېر رئیسانو په ګډون ګټې اخیستنې ته وسپارل شول، د بي بي عایشه(رض) جومات د سړیو او ښځو لپاره د اوداسه او لمانځه بېل بېل ځایونه لري، چې دواړه د یوه خصوصي شرکت په ملاتړ جوړ شوي دي او د دې ترڅنګ په یاد ترمینل کې یو لوی سوپرمارکېټ هم جوړ شوی دی، چې د مسافرو لپاره د اړتیا وړ توکي پکې پلورل کېږي.

## په ننګرهار هوايي ډګر کې د بيارغونې چارې

د ننګرهار هوايي ډګر چې د هېواد له مهمو محلي هوايي ډګرونو څخه ګڼل کېږي، د عملياتي ساحې د لا منظم او معياري کېدو په پار پکې د يو ميليون افغانيو په لګښــت رغنيزې چارې پيل شوې دي، چې په دې سره به دا هوايي ډګر لا معياري او هر ډول الوتنو ته چمتو کړای شي.

## د خوست هوايي ډګر پرمختيايي چارې

د خوســت نړيوال هوايــي ډګر د پرمختيايي چارو په لړ کې د ځمکنيــو خدمتونو ټرون د هوايي چلند معيــن الحاج مولوي فتح‌الله منصور لخوا لاســليک شــو، چې لــه دې سره به مســافرو ته لا غوره خدمتونه وړاندې شي.

## د باميان هوايي ډګر د ځغاستليکې د بيارغونې چارې

د باميــان ولايت د هوايي ډګر د ځغاســتليکې د بيارغونې چارې د هوايــي ډګرونو لوی رئيس الحاج عبدالستار غروال، د باميانو والي عبدالله سرحدي او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د يو شمېر رئيســانو په ګډون په عملي ډول پيل شــوې. په دې باندې به ۴۰ميليونه او ۸۰۰زره افغانۍ لګښــت راشي، چې ټولې به د ټرانســپورټ او هوايي چلند وزارت لــه پرمختيايي بودېجې څخه ورکول کېږي او چارې به يې په اتو مياشتو کې بشپړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د افغانستان د بېلابېلو هوايي ډګرونو پرمختګونه نه يوازې د مسافرو لپاره اسانتياوې زياتوي، بلکې د هېواد د هوايي چلند سکتور ته هم وده ورکوي. د معياري ودانيو او بيارغونې پروژو په عملي کېدو سره د افغانستان هوايي ډګرونه د نړيوالو معيارونو پر لور ګامونه اخلي، چې دا د هېواد د پرمختګ لپاره يوه لويه لاسته راوړنه ده.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند سرپرست هرات ولایت ته سفر ترسره کړ

د ټرانســپورټ او هوايي چلند سرپرست الحاج ملا حمیدالله احندزاده هرات ته د خپل سفر په ترڅ کې د خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر څخه د لیدنې پر مهال ووېل، چې د دې هوايي ډګر د رمپ ساحه او وسایطو تمځای به په اساسي ډول جوړېږي او همدارنګه یو نوی د کنټرول برج او د اوروژنې لپاره به یوه نوې ودانۍ جوړېږي او له ســاحې څخه به یې اوســپنیزه پنجره یا فینس چې لومړنۍ چارې یې پیل شوې دي، چاپېرېږي او د دې تر څنګ یې یاد ولایت باروړنکي ترمینل له ټرانسپورټي چارو څخه هم لیدنه وکړه او د موټرچلوونکو ســتونزې او غوښتنې یې له نږدې واورېدې او د حل ډاډ یې ورکړ او همدارنګــه د وزیــر صاحب په لارښــوونه د پروژو د پلان، څېړنــې او پلي کولو رئیس ښــاغلي رستم حفظیار په ګذرې ولســوالۍ کې د بین‌الایتي ترمینل له چارو لیدنه وکړه او زیاته یې کړه چې دا ترمینل به له غوره اسانتیاوو برخمن، مسافرو او سوداګرو لپاره به پکې ټولې اسانتیاوې موجودې وي.






# واټ ټرانسپورټ

د ځمکني ټرانســپورټ په بېلابېلو برخو کې ترسره شوې پروژې او کړنې هغه اساسي ګامونه دي، چې د هېــواد د ټرانســپورټي خدمتونو د معیاري کولو او همدارنګه مســافرو او ســوداګرو ته د اســانتیاوو برابرولو په موخه پورته شــوي دي. ټرانســپورټ او هوايي چلند وزارت دې ته ژمــن دی چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د واټ ټرانسپورټ برخې ته پراختیا ورکړي، تر څو هېوادوالو ته په دې برخه کې پوره اســاني، چټکتیا او خوندیتوب رامنځته شي. په درېو میاشتو کې د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې چې کومې لاسته راوړنې او کړنې ترسره شوې دي، ځینې یې په لنډ ډول لوستلی شئ.

## د کندهار- کابل پر لویه لار ټکسیو په رسمي بڼه فعالیت پیل کړ

د کندهار ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لخوا د ټرانسپورټي موټرو معیاري کېدو او هېوادوالو تــه د غوره ټرانســپورټي خدمتونو وړاندې کولو په پار پر کندهار- کابل مســیر ټکســیو په نوي رنګ او رســمي بڼــه فعالیت پیل کــړ او د دې تر څنــګ د لوګر ولایت واټ ټرانســپورټ تنظیم لــوی مدیریت مســئولینو پر هڅو د لوګر- کابل مســافروړونکو موټرو تمځای ډېری موټر په نوي رنګ او رســمي بڼه برابر شوي دي، باید یادونه وشي، چې د هېواد په بېلابېلو مسیرونو اطرافي ټکسیو د اصولو سره سم فعالیت پیل کړی دی.

## د لښکرګاه او بهرامچې ولسوالیو تر منځ د ټکسي چلونې ځانګه پرانیستل شوه

د هلمند ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست په هڅو د لښکرګاه او بهرامچې ولسوالیو تر منځ د ټکسي‌چلونې ځانګه د یوه خصوصي شرکت لخوا پرانیستل شوه. د دغه شرکت ټول ټکسي موټر په جي پي اېس سیستم سمبال او ټرانسپورټي معیارونو سره برابر دي، چې له دې سره به د بهرامچې ولسوالۍ اوسېدونکو ته د پام وړ ټرانسپورټي اسانتیاوې برابرې شي

## د موټرچلوونکو روغتیایي وضعیت کتلو پروسه پیل شوه

د نیمروز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لخوا په هېواد کې د مسافرو او سوداګریزو توکو خوندي لېږد په موخه د مسافروړونکو او باروړونکو موټرچلوونکو د روغتیایي وضعیت د کنټرول پروسه پیل شوې ده. د یادې پروسې له مخې یوازې هغه کسان موټر چلولی شي، چې د روغتیا کارت ولري

## د خوندي سفر په موخه د سرعت کنټرول روان دی

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا د موټرو او مسافرو خوندي سفر کولو په موخه د مسافروړونکو بسونو د سرعت کنټرول پروسه دوام لري. په یاده پروسه کې د مسافروړونکو موټرو لوړ سرعت د تولیدي کمپنۍ له معیار سره سم ۱۰۵ کیلومتره پرساعت ټاکل کېږي او موټرچلوونکي نشي کولای چې له یاد معیار څخه خپل سرعت لوړ کړي. د یادولو وړده چې ددې پروسې په پلي کېدو سره به د ډېریو ټرافیکي پېښو مخنیوی وشي.

## برای جلب و جذب سرمایه‌گذاری خصوصی در سکتور ترانسپورت پالیسی ساخته می‌شود

اعضای کمیته جلب، جذب و تسهیل سرمایه‌گذاری خصوصی در سکتور ترانسپورت با حضور داشت الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای و برخی رئیسان وزارت ترانسپورت و هوانوردی در باره ساخت پالیسی جلب و جذب سرمایه‌گذاری خصوصی، بحث نمودند. این پالیسی به‌منظور حمایت، جلب و جذب سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی در بخش تأسیسات و زیربناهای ترانسپورت جاده‌ای و هوایی ساخته می‌شود که زمینه عرضه خدمات معیاری ترانسپورتی را فراهم خواهد کرد.



## په کابل کې د بار لېږدولو لپاره څه باندې ۱۷ زره موټر پېژندل شوي

د کابل ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست اړوند باروړونکي ترمینل کې د روان کال په چنګاښ میاشت کې ۱۷ زره ۲۳۳ موټر د هېوادوالو او ملي سوداګرو د مالونو لېږدولو لپاره پېژندل شوي. په یاد ترمینل کې د روڼ نوبت سیستم په ښه توګه پلی کېږي چې په ورځني ډول شاوخوا ۱۰۰۰ موټر د هېواد بېلا بېلو ولایتونو ته د بارلېږدولو لپاره معرفي کېږي او پدې سره هر موټرچلوونکي ته په خپل وخت د بار لېږدولو نوبت رسېږي.

## په غزني ولایت کې څه کم ۱۵ زره مسافروړونکي او ۶۰۰ باروړونکي موټر فعالیت لري

د غزني ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست اړوند ټرانسپورټي هڅو کې څه کم ۱۵ زره مسافروړونکي موټر فعالیت لري، چې د غزني څخه میدان وردګ، کابل، پکتیا، پکتیکا، زابل، کندهار او د یاد ولایت ولسوالیو ته تګ راتګ کوي. د یادونې وړ ده، چې په ټرانسپورټي هڅو کې د هېوادوالو خوندي سفر کولو په موخه له سفر کولو وړاندې د موټرو تخنیکي وضعیت کنټرولېږي او د دې تر څنګ د غزني باروړونکي ترمینل کې شاوخوا ۶۰۰ باروړونکي موټر فعالیت لري، چې د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته د سوداګرو او هېوادوالو سوداګریز توکي لېږدوي. په یاد ترمینل کې موټرچلوونکو ته لومړنۍ اسانتیاوې برابرې شوې دي او د روڼ نوبت سیستم په ښه ډول پلی کېږي، چې په ورځني ډول شاوخوا ۱۵۰ موټر د بار لېږدلو لپاره پېژندل کېږي.

## د افغانستان او پاکستان تر منځ د لاریو د تګ راتګ لنډمهاله سند وېش

د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند افغان ټرانسپورټي اتشې لخوا په ۱۴۰۳ چنګاښ میاشتې په ۳۰مه نېټه کوېټه کې پاکستاني موټرو، موټر چلوونکو او کلینرانو ته د لنډ مهاله داخلېدو سند (TAD) وېشلو لړۍ پیل شوې ده. باید یادونه وشي، چې تر دې یوه میاشت وړاندې په پېښور کې د افغان ټرانسپورټي اتشې له لورې د یادو سندونو لړۍ پیل شوه. دا سندونه د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو توکو لېږد رالېږد کې د اسانتیا برابرولو په موخه وېشل کېږي.



# د واټ ټرانسپورټ په برخه کې برېښنايي نوښت

پخوا د افغانستان ټرانسپورټي سکټور د ځينو ستونزو او خنډونو سره لاس او ګريوان و او ډېره تکيه پر فزيکي سيستمونو کېده؛ خو له نېکه مرغه اوس د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په يو نوي برېښنايي سيستم (موبايل اپلېکشن) په وړاندې کولو سره د دې ټولو ستونزو لپاره د حل يوه نوې او اغېزناکه لاره پرانېستل شوې ده، چې هم په چارو کې اساني او تيزي پيدا کوي او هم روڼتيا او شفافيت.

دغه برېښنايي سيستم يا موبايل اپلېکشن په پلازمېنه کابل او ځينو زونونو کې په ازمايښتي ډول پيل شوی دی، چې د ټرانسپورټي چارو په مديريت يې لوی بدلون رامنځته کړی دی او ورسره په چارو کې روڼتيا او سرعت رامنځته شوی دی. د دې سيستم په مرسته ټول مسافروړونکي او باروړونکي موټر د برېښنايي سيستم له لارې ثبتېږي، چې له دې سره د ترمينلونو بې نظمي او ګډوډي له منځه ځي.

له دې نوښت سره موټرچلوونکي کولای شي په ډېره اسانی خپل اسناد ثبت او ټوکن ترلاسه کړي. هغه ستونزې چې پخوا د فزيکي چک او تائيد په پروسه کې وې، اوس په ډيجيټلي بڼه حل مومي. دا نوښت د وخت سپما، د عوايدو شفافيت، او د ټرانسپورټي سکټور د موثريت لوړولو په برخه کې يوه لويه لاسته راوړنه ده.

دغه سيستم نه يوازې د موټرچلوونکو لپاره يوه اسانتيا او د ټرانسپورټي شرکتونو لپاره يو نوی پرمختګ دی. د پخوا په پرتله موټرچلوونکي اوس خپل اسناد په انلاين بڼه ثبتوي او د ټوکن اخيستلو او تائيد لپاره اوږدو او ستونزمنو پروسو ته اړتيا نه پيښېږي. موټرچلوونکي او ټرانسپورټي شرکتونه اوس خپلې چارې په اسانی سره ترسره کوي، چې دا نه يوازې د هغوی لپاره بلکې د عامو خلکو لپاره هم يو لوی پرمختګ ګڼل کېږي.

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ژمن دی، چې په افغانستان کې به ټرانسپورټي سکټور ته لا وده ورکوي او د هېواد په هر ګوټ کې به خلک له دې اسانتياوو څخه برخمن کوي. دا نوښت يوازې د يوه فني پرمختګ په توګه نه؛ بلکې د افغانستان د ټرانسپورټي سکټور د نړيوالو معيارونو سره سمون لپاره يو لوی ګام ګڼل کېږي، چې په راتلونکو کلونو کې به د دې صنعت په وده او پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.



# په ولسوالیو او ولایتونو کې د اداري ودانیو جوړول

د افغانسـتان په بېلابېلو ولایتونو کې د زیربنـاوو د پیاوړتیا او پرمختګ د یو نوي دور پیل دی. هره ودانۍ چې جوړه شي، هر نوی بنسټ چې کېښودل شي، دا یوازې خښتې او ډبرې نه دي؛ بلکې هغه امیدونه او امکانات دي چې د خلکو راتلونکي ورسره روښـانه کېږي. د ټرانسـپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا په ولسوالیـو ولایتونو کې د نوو اداري ودانیو د جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي. دا بهیر به نه یوازې د اداري چارو په ښه کولو کې مرسته وکړي، بلکې د ولایتونو اقتصادي او ټولنیز پـرمختـګ تـه بـه هـم یو نـوی فـرصت برابر کـړي.

د دې ودانیو جوړېدل د افغانستان پـه پـرمختګ کـې مهـم او اسـاسـي رول لـري.

دا ودانـۍ د هغـو خلکـو لپاره ښه زیری او پیغام هم دی چې پـه دغـو سیمـو کې د ټرانسپورتي چارو سمون ته سترګې په لاره دي.



## د نوو ودانیو ارزښت:

په افغانستان کې د اداري ودانیو نشتوالي تل د زیربنایي پرمختګ مخه نیولې ده. په ډېرو سیمو کې د اداري ودانیو نشتوالي له کبله د کارکوونکو لپاره نه یوازې چې خدمتي چارې ستونزمنې کړې وې، بلکې د دې ادارو اغېزمنتیا هم ورسره کمه شوې وه.. په همدې موخه ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت پرېکړه وکړه چې په ولایتونو کې اداري ودانۍ جوړې کړي، چې له دې سره به نه یوازې په اداري چارو کې اسانتیا رامنځته شي، بلکې اداري کارکوونکو لپاره به هم لازمې اسانتیاوې برابرې کړي، چې اوس مهال په یوولسو ولایتونو کې پرې کار روان دی.

## د ودانیو ځانګړتیاوې او پرمختیایي چارې:

دغه ودانۍ چې په درو او دوو پوړونو کې جوړېږي، هره یوه ودانۍ یې تشکلاتي پرسونل ته په کتو، ۶، ۱۲، ۱۶ اداري دفترونه او نورې اسانتیاوې لکه پخلنځی، تشنابونه او نورې اسانتیاوې لري، چې په یوولسو ودانیو ټولټال ۸۵میلیونه افغانۍ لګښت راغلی دی، چې ټول یې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د پراختیایي بودجې څخه ورکول شوی دی.

د یادونې وړ ده چې په دې کې د خوست، ننګرهار، نیمروز، بلخ، جوزجان، سرپل او لوګر ولایتونو ودانیو د جوړېدو چارې بشپړې شوي او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. همدا راز د پکتیا، غور، اروزګان او جوزجان ولایتونو ودانیو کارونه هم د بشپړېدو په حال کې دي، چې ۸۵ سلنه چارې یې پای ته رسېدلي او په راتلونکو دوو میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادو ودانیو په بشپړېدو سره به کارکوونکي په داسې چاپېریال کې خپلې دندې ترسره کړي چې له ټولو لازمو اسانتیاوو به برخمن وي. دغه ودانۍ به نه یوازې د اداري چارو اغېزمنتیا زیاته کړي، بلکې کارکوونکي به د خدمتي چارو په برخه کې له نویو فرصتونو او امکاناتو سره هم اشنا کړي.

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت له لورې دا ګام د اوږدمهاله پرمختیایي پلانونو یوه برخه ده. دغه وزارت په راتلونکې کې پلان لري چې په نورو ولایتونو کې هم ورته ودانۍ جوړې کړي تر څو د ټرانسپورټ سکټور په هر اړخیز ډول پراختیا ومومي. د دې ودانیو جوړول نه یوازې چې یو فزیکي پرمختګ دی، بلکې د دې څرګندونه کوي چې څنګه یو وزارت د هېواد په پرمختګ او د خلکو د ژوند د کیفیت په لوړولو کې مثبت بدلون راوستلی شي.



## الوتونکې ټکسي

د هوایي چلند لیلیم (Lilium) الماني شرکت الوتونکې بریښنایي ټکسي وړاندې کړې، چې د چټک لېږد په موخه پکې د الوتکې او موټر ځانګړتیاوې سره یوځای شوې دي. د سعودي هوایي چلند ادا ډول ۵۰ الوتونکې ټکسیانې غوښتې دي او تمه ده چې دغه الوتونکي بریښنایي ټکسۍ د هوایي لېږد په ډګر کې ستر رول ولوبوي.




# نقش هده‌ها
# در نظم ترانسپورتی شهرها

واحدهــای دومی وزارت ترانســپورت و هوانــوردی در مرکز و ولایات جهت فراهم شــدن تســهیلات ترانســپورتی برای شهروندان و رانندگان، همواره تلاش‌های موثر و کارایی روی دست داشته اند که از این میان ایجاد هده‌ها در نقاط مختلف ولایات برای مســافرین در زمینه رفت و برگشت شان سهولت فراهم کرده است.

با این حال ریاســت تنظیم ترانســپورت جــاده‌ای ولایت نیمروز یک هده وســایط باربــری و یک هده وســایط مســافربری در مســیرهای دلارام-کندهــار و دلارام-هلمند در ولســوالی دلارام این ولایت ساخته است که در این هدهها برای رانندگان انتظارگاه، مسجدی و دیگر تسهیلات فراهم شده است.

مدیریت عمومی تنظیم ترانســپورت جاده‌ای دایکندی در شهر نیلی یک توقف‌گاه وسایط مسافربری ایجاد کرده که از آن به هرات، کابل، غور و ولسوالی‌های دایکندی مسافر انتقال داده می‌شود.

در کنار این، آمریت تنظیم ترانســپورت جاده‌ای ولایت سرپل نیز برای وســایط مســافربری هدههای جداگانه با تسهیلات لازم ساخته است که مسافرین از خدمات آن مستفید می‌شوند.

در ولایت پکتیا هم برای مســیرهای شش ولسوالی هده‌های جداگانه ایجاد شد که در راستای رفت و برگشت مسافرین خدمات بهتر ترانسپورتی ارایه می‌شود.

از ســوی هم ریاست تنظیم ترانســپورت عامه شهری به‌منظور نظم بهتر ترانســپورتی شهر کابل، در ساحه احمدشاه بابا مینه برای تکسی‌های شهری در هفت مسیر یک هده جدید ایجاد کرده و در ضمن برای ریکشاه‌های که در این ساحه فعالیت دارند، مسیرهای خاص تعیین نموده است.

قابل ذکر اســت که با تعیین مســیرهای خاص برای ریکشــاها، فعالیت این وســایط نظم بهتر یافته است.

علاوه بر این، رئیس تنظیم ترانسپورت جاده ای کندز به هدف تطبیق لایحه کرایه، از فعالیت ترمینل های شهر کندز نظارت نمود و برای رانندگان در باره تطبیق لایحه کرایه هدایات لازم داد.
همچنان میان وزارت‌های ترانسپورت و هوانوردی و زراعت، آبیاری و مالداری تفاهمنامه انتقال ۶۱۰۱.۵ جریب زمین به‌منظور اعمار ترمینل‌های مسافربری، باربری، تیرپارک‌ها و دروازه‌های تول‌گیت به امضا رسید. این قطعه زمین در ولایت‌های کابل، غور، فراه و بلخ به وزارت ترانسپورت و هوانوردی انتقال یافته است که در ولایت‌های کابل حدود ۱۰۰۰ جریب زمین، پکتیا ۱۱۰ جریب، لوگر ۲۰۰ جریب و نیمروز ۲۲۰۰ جریب می‌باشد.
از سوی هم کار اعمار یک تیرپارک برای وسایط باربری در ولایت میدان وردک در مساحت ۲۳ جریب زمین به هزینه ۵ میلیون افغانی آغاز شده است که کار ساخت آن در مدت هشت ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

# داسې رنګ چې موټر سوړ ساتي

تاسې به لیدلي وي، چې کله موټر لمر ته ولاړ وي، کله خو دومره ګرم شوی وي، چې ناسته پکې نه کېږي، یوې جاپانی کمپنی نیسان همدې ستونزې ته په لېدو یو نوی رنګ ازمویې چې په دې سره به د موټر د کابین تودوخه ورسره کمېږي.، یاده کمپنی وایي چې ازموینو ښودلې چې دا نوی رنګ به د موټر بهرنی سطحې تودوخه د سانتي ګراډ تر ۱۲ درجو پورې او د موټر د منځ تودوخه به تر پنځو درجو پورې سړه وساتي. دا رنګ چې په سوړ رنګ نومول شوی دی، د اوس لپاره د توکیو په هانې ډا هوایي ډګر (Haneda Airport) کې په موټرو ازمایل شوی دی.
دا رنګ د میټامیټریل( Metamaterial ) هغه ځانګړتیاوې لري چې معمولاً په طبیعت کې نه لیدل کیږي. د مثال په توګه، دا مواد کولی شي د رڼا او څپو مخنیوی په داسې ډول وکړي، چې په طبیعت کې په عادي حالت کې ممکنې نه دي. دا رنګ داسي موجونه رامنځته کوي چې د لمر انرژي دفع کوي او د دې لامل کېږي چې موټر په ځنډ سره تود شي.





# په هرات ولايت کې د مسافروړونکي او ټرانزيټي ترمينل په موخه د يوې لويې پروژې پيل

د هرات ولايت په گذرې ولسوالۍ کې د يوه نوي مسافروړونکي او ترانزيټي ترمينل د جوړولو چارې په رسمي توگه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په حضور کې پرانيستل شوې. دغه ترمينل به په نړيوالو معيارونو برابر او د افغانستان ټرانسپورټي سيستم په پرمختگ کې به مهم رول ولوبوي.

ياد ترمينل د هرات ښار څخه شاوخوا شل کيلومتره لرې، د خواجه عبدالله انصاري نړيوال هوايي ډگر ته نږدې، په يو زر متر مربع ځمکه کې د ۱.۸ ميليارد افغانيو په لگښت د عامه مشارکت له لارې جوړېږي. په دې ترمينل کې به د ټرانزيټي فعاليتونو د پراختيا په پار ټولې اړينې اسانتياوې برابرې شي.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته د وينا پر مهال دا ترمينل د واټ ټرانسپورټ په سکتور کې له سترو پروژو څخه وشمېره او زياته يې کړه چې دا به په ملي او نړيوالو معيارونو برابر ټرانسپورټي او ټرانزيټي ترمينل وي او د هرات والي هم په خپلو خبرو کې يادونه وکړه چې دا ترمينل به په داسې معيار جوړېږي چې په گاونډيو او د سيمې هېوادونو کې به کم‌سارى وي.

دا چې دا پروژه د سيمه‌ييزو او نړيوالو سوداگريزو او ټرانسپورټي خدمتونو د پراختيا لپاره يوه بنسټيزه زيربنايي پروژه گڼل کېږي، له دې سره به په مستقيم او غير مستقيم ډول ۴۰۰۰ کسانو ته د کار زمينه برابره شي او ورسره به د ځايي او ملي اقتصاد په وده کې مهمه ونډه ولري، چې نه يوازې د هرات ولايت سوداگريز او ټرانسپورټي وضعيت به ورسره ښه شي؛ بلکې د سيمې د اقتصادي اړيکو د پراختيا لپاره به هم نوي فرصتونه برابر کړي.



## په تېرو درېو میاشتو کې څه باندې ۲۸۰۰ کورنۍ تر خپلو سیمو په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوې دي

د ۱۴۰۳ل کال په (چنګاښ، زمري او وږي) میاشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ، د ټرانسپورټ کمیټې لخوا له تورخم او سپین بولدک څخه (۲۰۵۹) کورنۍ چې د کسانو شمېر یې (۱۰۶۹۷) و او همدارنګه د کابل ولایت څخه (۷۳۸) کورنۍ چې د کسانو شمېر یې (۳۹۷۵) ته رسېده، د افغانستان بېلابېلو ولایتونو ته په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوې دي.




## څه کم ۲۰۰ کارکوونکو ته روزنیز پروګرامونه جوړ شوي دي

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا په تېرو درېو میاشتو (چنګاښ، زمرى، وږى) کې د ځارنې او پلټنې، پلان او راپور جوړولو، انګلیسي، کمپیوټر او نور بېلابېل اړین ښوونیز پروګرامونه او سمینارونه جوړ شوي دي، چې له مرکز او ولایتونو څخه څه کم ۲۰۰ کسانو پکې برخه اخیستې او ددې تر څنګ ٦تنه کارکوونکي د لنډمهالو زده‌کړو لپاره چین هېواد ته لېږل شوي دي او ځینې نور کارکوونکي په کم تخفیف پوهنتونونو او نورو پوهنیزو بنسټونو ته ورپېژندل شوي دي.




## د څه کم ۸زره موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوې

په تېرو درېو میاشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د هېواد په ټرانسپورټي هډو او ترمینلونو کې د موټرو تخنیکي وضعیت په جدي توګه کنټرول شوى دى. په دې موده کې ۷۸۹٦ موټرو تخنیکي وضعیت ارزول شوى، چې له ډلې یې د ۷۲۳ موټرو فعالیت د تخنیکي ستونزو حل په موخه ځنډول شوى دى او د دې تر څنګ د باروړونکو موټرو د ځارنې او کنټرول په موخه ۲۷۰۰ بار وړونکو موټرو کې د جي پي اس آلې نصب شوې دي او سربېره پر دې د مسافرو او توکو د خوندي لېږد او د ترافیکي پېښو د کموالي په موخه په بېلابېلو ولایتونو کې د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو څخه د ناقانونه لایزري ځراغونو لرې کولو پروسه هم په چټکۍ سره روانه ده.




# د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام ترسره شو

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې «د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام» کې برخه واخیسته او د رسنیو له لارې یې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تېر یو کال لاسته راوړنې او راتلونکي پلانونه په لنډ ډول وړاندې کړل.

په دې پروګرام کې د یاد وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد، د وزارت په عمومي لاسته راوړنو رڼا واچوله او په خپلې وینا کې یې زیاته کړه، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزات د هېواد له هغو وزارتونو څخه دی، چې د هېواد په رغولو او ابادولو کې رغنده رول لري.

له دې وروسته په خپل نوبت د هوايي چلند عملیاتي معین الحاج مولوي فتح‌الله منصور د هوايي چلند عمده لاسته راوړنې وړاندې کړې، د هوايي ډګرونو پراختیا او پرمختګ ته یې اشاره وکړه او په خپلو خبرو کې یې وویل: په لنډه موده کې په دې وتوانېدو چې د هوايي چلند برخه پر پښو ودروو، تاسې ګورئ چې دعبوري الوتنو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی او اوس په ۲۴ساعتونو کې ۲۶۵الوتنې ترسره کېږي او په پای کې یې د هوايي چلند په برخه کې ځینې راتلونکي پراختیایي پلانونه شریک کړل.

د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په خپلو خبرو کې د یو کال په موده کې د ځمکنۍ ټرانسپورټ په پراختیا، برېښنایي سیستم او د له ګاونډیو هېوادونو سره د ځمکنۍ ټرانسپورټ په اړه په شویو پرمختګونو خبرې وکړې او د واټ ټرانسپورټ په برخه کې یې ځینې راتلونکي پلانونه هم وړاندې کړل.

په پای کې د رسنیو استازو لخوا بېلابېلې پوښتنې وشوې، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د عامه اطلاعاتو او نشراتو رئیس او ویاند امام‌الدین احمدي د رسنیو پوښتنو ته ځوابونه وویل.

# د دریو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه

## چنګاښ/ سرطان میاشت

- د خوست ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست ته نوی رئیس معرفي شو
- د باروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه
- برخی کارمندان وزارت ترانسپورت و هوانوردی در برنامه آموزشی سازمان ایکاو، به‌طور آنلاین اشتراک نمودند.
- مولوي ګل متخان شاهد د بامیانو ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم مسؤل په توګه وپېژندل شو.
- سفرهای معین ترانسپورت جاده‌ای به ولایات؛ پیرامون تطبیق لایحه کرایه با مقام‌های محلی پکتیا و ننگرهار دیدار کرد.
- د دایکنډي ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم مدیریت ته نوی مسئول ورو‌پېژندل شو.
- د داخلي پلټنې او څارنې ریاستونو کارکوونکو ته پنځلس ورځنی سمینار پیل شو.
- معین ترانسپورت جاده‌ای پیرامون شماری از موضوعات ترانسپورتی با مقام‌های محلی کندهار دیدار کرد.
- خوست ولایت کې ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه.
- د غزني ولایت باروړونکي ترمینل کې رونډ نوبت سیستم په ښه ډول پلی کېږي.
- د ټرانسپورټي اړیکو پراختیا په موخه ناسته وشوه.
- در باره روش کُدگذاری صادرات و واردات مراسلات اداری نشست برگزار شد.
- د کندوز ولایت له ټرانسپورټي ترمینلونو څارنه وشوه.
- د هوایي چلند انستیتیوټ د زده کړیالانو ازموینې پیل شوې.
- پیرامون توزیع سند ورود موقت وسایط باربری نشست برگزار شد.
- د ځینو ولایتونو د ټرانسپورټ تنظیم مسئولینو سره ناسته وشوه.
- د ټرانسپورټي کتابچو د وېش او جي پي اېس سیستم د نصب پروسې پر چټکتیا ناسته وشوه.
- لغمان کې موټرچلوونکو ته د کرایې لایحې په تړاو پوهاوی ورکړل شو.
- په تېرو دریو میاشتو کې څه کم درې زره موټرو ته اسناد وېشل شوي.
- معین ترانسپورت جاده‌ای در باره تطبیق لایحه کرایه با مقام‌های ولایات شمال کشور دیدار کرد.
- د واټ ټرانسپورټ معین د کندوز ولایت له سیمه‌ییزو چارواکو سره لیدنه وکړه.
- د ټرانسپورټي شرکتونو فعالیتونه وارزول شول.
- د کارکوونکو د دیني زده‌کړو ارزونه وشوه.
- د څارنې او داخلي پلټنې کارکوونکو پنځلس ورځنی سمینار پای ته ورسېد.
- ټرانسپورټي شرکتونو کې د موټرو ثبت په تړاو ناسته وشوه.

## زمري / اسد میاشت

- با نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی مسافربری و باربری ولایت بلخ دیدار شد.
- معین ترانسپورت جاده‌ای در باره تطبیق لایحه کرایه با والی کابل دیدار کرد.

- د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره لیدنه وشوه.
- د جوزجان ولایت ټرانسپورټي هډو کې غوره نظم رامنځته شوی.
- غزني کې د موټرو کرایې لایحې پلي کولو څخه څارنه وشوه.
- د خوست نړیوال هوایي ډګر ځغاستلیکې دواړو خواو رغونې چارې بشپړ شوې.
- در ترمینل و هده‌ها مسافربری بلخ خدمات ۲۴ ساعته ترانسپورتی ارائه می‌شود.
- د فاریاب ولایت له ټرانسپورټي چارو او د کرایې لایحې پلي کولو څخه څارنه وشوه.
- له ټرانسپورټي شرکتونو سره د جي پي اېس سیستم پر چټکولو ناسته وشوه
- درباره میکانیزم تثبیت و نظارت از لایحه کرایه نشست برگزار شد.
- فعالیت وسایط شخصی در هده‌های شهر کابل ممنوع شد.
- کارمندان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بلخ از انتقال اضافه بار توسط وسایط مسافربری در ترمینل مسافربری مزارشریف جلوگیری کردند.
- کندوز کې د شپې لخوا د ټرانسپورټي ترمینلونو څخه څارنه وشوه
- روند جلوگیری از فعالیت تکسی‌های شخصی در شهر کابل از سوی کارمندان وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌طور جدی جریان دارد.
- د ټرانسپورټي اصولو پلي کولو په تړاو ناسته وشوه.
- هرات ولایت کې له یو شمېر کسانو ازموینه واخیستل شوه.
- د اقیني بندر له ټرانسپورټي چارو څارنه وشوه.
- با مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت بلخ نشست آنلاین برگزار شد.
- بلخ ولایت کې له ۷۰ کسانو ازموینه واخیستل شوه.
- نشست بورد حقوقی وزارت ترانسپورت و هوانوردی برگزار شد.
- تلاش‌ها جهت معیاری شدن وسایط مسافربر در بلخ به‌طور جدی جریان دارد.
- در باره جلوگیری از فعالیت وسایط خلاف‌دست در مرکز و ولایات، نشست برگزار شد.
- د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره د همغږۍ ناسته وشوه
- در اثر تلاش ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کندهار، تکسی‌های بشتر در این ولایت به رنگ جدید مزین شده اند.
- د هرات ولایت له ټرانسپورټي چارو څارنه وشوه.
- در اثر تلاش ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت فاریاب، تکسی‌های رنگ جدید در این ولایت به فعالیت آغاز کرد.
- په نیمروز ولایت کې د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو د موټرچلوونکو روغتیایي وضعیت د کتنې پروسه پیل شوه.
- دایکندي ولایت کې له ټرانسپورټي چارو څارنه وشوه.
- په هوایي ډګرونو کې د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو په تړاو ناسته ترسره شوه.
- د ځېړنې مېتود تر سرلیک لاندې سمینار پیل شو.
- د ټرانسپورټي چارو د سمون په موخه ناسته وشوه
- د خوست ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست اداري ودانۍ جوړولو چارې بشپړې شوې.
- د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په انګړ کې نوی جوړ شوی جومات ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

## وږي / سنبله میاشت

- د ټرانسپورټي چارو د ښه والي په موخه ناسته وشوه.
- در جریان ماه سرطان سال روان برای یک هزار و ۳۴۴ عراده واسطه در کابل اسناد ترانسپورتی توزیع شده است.
- د کرایې لایحې ټاکلو په موخه د مرکزي کمیټې غړو ناسته ترسره شوه.
- د خوست – کابل مسیر زیاتره موټر په ټکسي بڼه برابر شوي دي.
- به ریاست معین عملیاتی هوانوردی در باره فراهم شدن تسهیلات به حجاج عمره نشست برگزار شد.
- ننګرهار کې رېکشاوو ته سټېکر وېشل کېږي.
- به ریاست معین ترانسپورت جاده‌ای در باره کرایه وسایط باربری زون شمال شرق کشور نشست برگزار شد.
- د کډوالو لېږد پروسې څخه لیدنه وشوه.
- د کندوز- بلخ مسیر ۹۰ سلنه موټر په ټکسي بڼه برابر شوي دي.
- دشت‌برچي ټرانسپورټي هډه کې د تخنیکي کنټرول پروسه ترسره شوه.
- پیرامون موثریت برنامه‌های ارتقای ظرفیت کارمندان نشست برگزار شد.
- امتحان بخش شبانه انستیتوت هوانوردی ملکی آغاز شد.
- د شېرخان بندر ټرانسپورټي چارو څخه لیدنه وشوه.
- د جي پي اېس شرکتونو له استازو سره ناسته وشوه.
- د هلمند ولایت لښکرګاه او بهرامچې ولسوالۍ تر منځ د ټکسي چلونې ځانګه پرانیستل شوه.
- د ګردیز- کابل مسیر ډېری مسافروړونکي موټر په رسمي بڼه برابر شوي دي.
- د مسافروړونکو ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته عامه پوهاوی ورکړل شو.
- د کابل ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم لوی ریاست ته نوی رئیس  وروپېژندل شو.
- معینان ترانسپورت جاده‌ای، مالی و اداری با مسئولان تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایات نشست آنلاین برگزار کردند.
- د ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته د نوي برېښنايي سیسټم په اړه معلومات ورکړل شول.
- د شرکتونو د طرزالعمل پر پلي کېدو ټینګار وشو.
- برای کارمندان ترانسپورت جاده‌ای و میادین هوایی در باره چگونگی تهیه پلان کاری و گزارش دهی سمینار ارایه گردید.
- د پانګې اچونې راجلبولو او تسهیل کمېټې غونډه ترسره شوه.
- رئیس تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت نیمروز از فعالیت‌های ترانسپورتی در بنادر این ولایت نظارت نمود.
- د هوایي دهلېزونو له لارې د سوداګریزو توکو پر لېږد ناسته وشوه
- از سوی ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت هرات در ترمینل باربری بین‌الولایتی این ولایت خدمات ۲۴ ساعته ترانسپورتی ارایه می شود.
- د پکتیا ولایت څمکنیو ولسوالۍ موټرو تمځای کې ټرانسپورټي چارې په منظم ډول رواني دي.
- میدان هوایی شبرغان ولایت جوزجان در حال حاضر برای انجام پروازهای طیارات فعال است.
- د فراه هوايي ډګر په اړینو تجهیزاتو سمبال او الوتنو ته چمتو دی.
- د پایتخت ترمینل له ټرانسپورټي چارو څخه ځارنه ترسره وشوه.



# ځغاستلیکه (Runway)

د الوتکې ځغاسـتلیکه یا Runway (رن وې) د هوايي ډګر له مهمو برخو څخه شـمېرل کېږي. دا هغه سړک یا لاره ده، چې الوتکه پرې ناسته او الوتنه کوي. د الوتکو ځغاستلیکه باید د ښاري سړکونو، لوړو ودانیو او کورونو څخه لرې وي،تر څو الوتکې ته د خطر پر مهال مسافرو ته زیان ونه رسېږي.

ځغاستلیکه باید د باد د سمت مطابق جوړه شوې وي او ځینې وخت په ډېرو بوختو هوايي ډګرونو کې، چې د مسافرو تګ راتګ پکې زیات وي، د یوې پر ځای دوه یا درې ځغاستلیکې وي.

د ځغاسـتلیکې په اخر کې یوه هواره ساحه موجوده وي، چې دا ساحه د خطر پر مهال د الوتکې سره د خطر په کمولو کې مرسـته کوي. یعنې کله چې الوتکه هوا ته پورته کېږي او بیا د تخنیکي سـتونزې له امله هوا ته پورته نه شي،هغه وخت دا هواره سـاحه مرسـته کوي، ترڅو په الوتکه کې ناستو مسافرو ته زیان ونه رسېږي او همدا ډول د ناستې په حالت کې هم مرسته کوي.

ځغاستلیکه په پټه لرونکو نښو او رنګونو رنګ کړل شوې وي، ترڅو د ورځې په جریان کې پیلوټ په ښه ډول الوتکه هوا ته پورته او یا ښکته کړي.

همدا ډول پر همدې رنګه لیکو یا پټو یوه خوا او بله خوا روښـانه څراغونه وي، ترڅو الوتکې ته د شپې لخوا روښانه معلومه شي او په خوندي ډول ناسته او الوتنه وکړي.

په هوايي چلند کې د ځغاسـتلیکې حفاظت او نظارت ډېر اړین دی، که چېرې پر ځغاسـتلیکه د لاس په انـدازه ډبره او یا یو نټ بولټ پروت وي، د هوايي ډګر د هوايي ټرافیکو د ټاور کنټرولر حق نه لري چې الوتکې ته اجازه ورکړي، چې ناسته او الوتنه وکړي.

د ځغاستلیکې په یوه خوا کې ۴ داسې تېز او روښانه څراغونه موجود دي، چې په هوايي چلند کې ورته PAPI LIGHTS [1] ویل کېږي، چې الوتکې ته د ځغاستلیکې زاویه ورښيي، ترڅو په خوندي ډول ناسته وکړي. د ځغاسـتـ لیکې په سر کې د Touche down په نوم یو ځای دی، چې پټه لرونکې او سـپینې لیکې لري، دا د دې لپاره ده، چې باید د الوتکې ټایرونه په همدې ساحه کې ولګېږي، که ددې ساحې څخه وروسته ولګېږي، د خطر شونتیا رامنځته کېږي او د مسافرو ژوند ته ګواښ پیدا کېږي.

ځغاستلیکه باید لږ تر لږه ۱۸۰۰ متره اوږدوالی ولري، ترڅو منځنۍ او کوچنۍ الوتکې پرې ناسته او الوتنه وکړي او څومره چې د ځغاستلیکې اوږدوالی زیات وي، هغومره د خوندیتوب ګراف ورسره لوړېږي.

د هوايي چلند د قانون پر اسـاس، که چېرې پر ځغاسـتلیکه یوه الوتکه موجـوده وي، بله الوتکه او یا موټر نشي کولی، چې ځغاستلیکې ته داخل شي؛ مګر نظامي حالت ورڅخه مستثناء دی.

د هوایي چلند د قانون پر اسـاس د هوايي ډګر د عملیاتي ساحې د خوندیتوب ټیم مکلف دی، چې په هرو څو ساعتونو کې د ځغاستلیکې نظارت او لیدنه وکړي او د هوايي ډګر کنټرول ټاور ته راپور ورکړي، ترڅـو الوتکـې په پـوره خوندیتوب سره ناسـته او الوتنه وکـړي او د هوايي چلند د قانون پر اسـاس ځغاستلیکه باید د هر ډول درز، نړیدلو او ډبرو څخه پاکه او هواره وي، چې د الوتکې ناستې او الوتنې پر مهال مسافرو ته کوم زیان ونه رسېږي.

هغه سـړک چې ځغاستلیکه د مسافرو د ترمینل سره نښلوي، هغې ته taxiway ټکسوی ویل کېږي، چې په راتلونکې مجله کې به یې معلومات درته وړاندې شي.

احمد یاسر لودین (د هوايي چلند د اطلاعاتو NOTAM مدیر)

## د الوتکو رنګ ولې سپین وي؟

په نړۍ کې کابو ټولې الوتکې چې په سپین رنګ رنګول شوې دي. لامل یې دا دی چې سپین رنګ د لمر وړانګې نه جذبوي؛ بلکې وړانګې منعکسـوي. دا د دې سـبب ګرځي چې الوتکه د لمر له تودوخې څخه خوندي پاتې شي او زیان ونه ویني. سربېره پر دې سپین رنګ د کابین سړولو لپاره د انرژۍ اړتیا کموي او په دې توګه د الوتکې د سړولو لګښتونه هم راکموي.

په پایله کې د سپین رنګ کارول نه یوازې د الوتکې د فزیکي ساتنې لپاره ګټور دی؛ بلکې د عملیاتو په اوږدو کې د انرژۍ د سـپما یوه ښـه لار هم ده. دا رنګ د الوتکې د ظاهري لید لپاره هم اغېزمن دی؛ ځکه چې سـپین رنګ په اسـمان کې د نورو رنګونو په پرتله په اسـانۍ سره لیدل کیدای شي، چې دا د خوندیتوب په برخه کې هم مهم رول لوبوي.



[1] Precision Approach Path Indicator



# د ټکنالوژۍ ستره ستونزه او پر هوايي چلند يې اغېز

د ۱۴۰۳ل کال د چنګاښ په ۲۹ نېټه د ټکنالوژۍ په ډګر کې تر ټولو لوی خبر د مايکروسافټ شرکت په وينډوز پروګرام کې د پراخې ستونزې په اړه و. دغه ستونزه چې په نړيواله کچه يې بېلابېل صنعتونه اغېزمن کړل، د سايبر سکيوريټي يا انټرنېټي خونديتوب خدماتو وړاندې کوونکي شرکت (CROWDSTRIKE) د تېروتنې له امله رامنځته شوه.

د دغه شرکت پروګرام د اپډېټ غوښتنه په تېروتنه کړې وه، چې له امله يې د مايکروسافټ وينډوز سيسټمونه اغېزمن شول. د دې ستونزې له امله ګڼ شمېر بانکونو، هوايي شرکتونو، روغتونونو، او خپرنيزو ادارو ورځنۍ چارې په ټپه ودرېدې. تر ټولو ډېر زيان يې د هوايي شرکتونو صنعت ته ورسېد، په ځانګړي ډول د امريکا دوه لويو شرکتونو ډيلټا او امريکن ايرلاينز زرګونه الوتنې لغوه کړې. که څه هم په ګڼو هېوادونو کې سوداګريزې او خدماتي چارې ورو ورو بېرته عادي حالت ته راګرځېدونکې وې؛ خو وخت يې ونيو. د ډيلټا هوايي شرکت تر څه وخته پورې له ګڼو ستونزو سره مخ و، او په ورځني ډول يې نږدې پنځه سوه الوتنې لغوه کولې.

د امريکا هوايي شرکت اداري په دې اړه ځېرنه پيل کړه، چې ولې يې خدمات عادي حالت ته ژر نه شول راستانه. د ډيلټا هوايي شرکت ټول سيسټمونه او پروګرامونه د مايکروسافټ وينډوز په مټ اداره کېږي، دوی په ځانګړي ډول د سيسټمونو او پروګرامونو په بېرته رغولو او په ځانګړې توګه د پيلوټانو لپاره د خدمتونو وړاندې کوونکې ډلې په برابرولو او د انتلانتا نړيوال هوايي ډګر (Hartsfield-Jackson Atlanta International Airport) کې د هوايي ټرافيکو په کنټرول کې پاتې راغلي دي.

د(CROWDSTRIKE) اجرايوي مشر شان هندري د ګډوډۍ له امله بښنه وغوښته او ويې ويل، چې د دې سيسټم بېرته جوړېدل به يو څه وخت ونيسي او دا يې د خپل شرکت لپاره تر ټولو ناوړه شېبه وبلله.

د دې ستونزې له امله اوس دا شونتيا شته، چې د سايبر امنيت په بازار کې د يو تر ټولو لوی چلوونکي په توګه د(CROWDSTRIKE) په اړه پوښتنې راپورته شي.

د نوموړي شرکت د تېروتنو له امله په نړيواله کچه څه باندې اته ميليونه کمپيوټرونه اغېزمن شول. دا د ټکنالوژۍ په تاريخ کې يو تر ټولو لويه ګډوډي وه. همدا لامل و چې د ياد شرکت ونډې څه باندې پنځه لس سلنه لوېدلې دي. د دې ستونزې له کبله د انټرنېټي خونديتوب په اړه پوښتنې راپورته کېږي او د داسې ستونزو د تکرارېدو د مخنيوي لپاره بايد جدي ګامونه پورته شي.



# پـه اسمان کـې د الـوتکې سپینه کرښه څه معنا لري ؟

کله کله یوه الوتکه په هوا کې تېرېږي، موږ د هغې تر شا یوه سپینه کرښه وینو. دا څه شی ده؟
د دې سپینې کرښې راز څه دی چې د الوتکو تر شا پاتې کېږي؟
ایا تاسو پوهیږی، چې دا سپینه کرښه چې کله ناکله یې په اسمان کې د الوتکو تر شا وینو څه شی ده؟ دلیل یې څه دی او ولې الوتکې په اسمان کې سپینه لیکه تر شا پرېږدي؟ دا یوه داسې پوښتنه ده چې شاید له ډېرو خلکو سره وي.

## د الوتکې سپینه لیکه:

الوتکې تر شـا یوه سـپینه کرښـه یا لیکه پرېږدي چې موږ یې په هوا کې لېدلی شـو. دا دود یا لیکه د الوتکې د تودو او مرطوبو گازونو څخه جوړه ده، چې له الوتکې بهر راوځي او د هوا له تودوخې سره گډ ېږي. په ډېرو لوړو ځایونو کې د فشـار او تودوخې له امله د اوبـو بخار په اگزوز(Exhaust) کې کنگل کیږي او د اختلاط پروسه د وریځې یا د سپینې لیکې بڼه غوره کوي چې له ځمکې څخه لیدل کېږي.
د جیټ انجن د گازونو ترکیب د کاربن ډای اکسـایډ، نایتروجن، ناسـوزېدلي سـون توکي، فلزي ذرات، سـلفر اکسـاید او همدارنگه اوبه شـاملې دي. دا ذرات له هوا سره گډېږي او د سـپینو کرښو په بڼه ښکاره کېږي. دا چې ولې ځینې وختونه الوتکې هیڅ ډول کرښه تر شا نه پرېږدي یا د هغوی کرښه ډېره لنـډه وي، د الوتکـې په الوتنه کې د رطوبـت او تودوخې سره تړاو لري. که رطوبت کم وي، کرښـه نه جوړېږي؛ ځکه چې د کرښې جوړېدو لپاره باید د رطوبت کچه ۱۰۰ سلنه یا له دې څخه زیاته وي.
پـه لوړو ارتفاعاتو کې که هوا مرطوبه وي خو یخه نه وي، بیا هم کرښـه نه جوړیږي. له ۲۸۰۰۰ څخه تر ۴۰زره فوټو ارتفاع کې د هوا تودوخه ۳۶ څخه تر ۷۶ فارنهایټ پورې وي. ځینې وختونه که د الوتکې تر شا یوه اوږده کرښه وي؛ نو دا معنا لري چې هوا په لوړه ارتفاع کې سړه او مرطوبه ده. که کرښه ماته ماته وي، دا ښیي چې الوتکه د وچې سیمې څخه مرطوبې سیمې ته ننوتې ده.
که د الوتکې تر شـا سـل فوټه ځای کې سپینه کرښه نه وي ؛ نو دا ښیي چې د گازونو او شاوخوا هوا د یخېدو وخت لنډ دی.

که تاسو د الوتکې تر شا څلور سپینې کرښې او وروسته یوازې دوه کرښې ووینئ؛ نو دا ښیي چې الوتکه څلور انجنونه لري او هر انجن خپله کرښه جوړوي؛ خو د هوا جریان له امله دا کرښې سره یوځای کېږي او یوازې دوه کرښې پاتې کېږي. کله چې کرښه جوړه شي، باد یې له ځانه سره وړلی او پراخه کولی شي. که کرښې لویې شي، یخي کرېستالونه د وچې سیمې پر لور غورځیږي او بېرته تبخیرېږي، یا په یوې مرطوبې سیمې کې غورځېږي او بیا له منځه ځي.

په باد کې د بدلون له امله، یخي کرېستالونه په مختلفو سرعتونو حرکت کوي او یو افقي یا عمودي پراخه شوې کرښه جوړوي.

## په یو ټکټ یو کال سفرونه

د هنگري یوه هوائي شرکت ویز ایر(Wizz Air) د یوه نوي وړاندیز په اعلان سره خپلو مسافرو ته ویلي، چې که یې په کال کې یو ځل یوازې ۴۹۹ یورو ورکړې، کولی شي ټول کال چې څومره سفرونه کوي، هغه به یې وړیا وي.

د دې وړاندیز په اعلان سره بېلابېل غبرگونونه مخې ته راغلي دي، ځینې دا وړاندیز غوره گڼي؛ خو ځینې بیا د دغه شرکت د الوتنو له ځنډ او د غوره خدمتونو د نه ترسره کېدو له کبله شکایتونه کوي.

ویز ایر شرکت ادعا کوي چې دا وړاندیز به هغو کسانو لپاره خورا گټور تمام شي، چې ډېر سفرونه کوي. شرکت زیاتوي چې له اعلان وروسته، په ۲۴ ساعتونو کې دا وړاندیز په ډېریو بازارونو کې پلورل شوی دی او په ۲۴ساعتونو کې یې ټول ټکټونه پلورل شوي دي.

د دې وړاندیز د لاسته راوړلو لپاره مسافر له خپل سفر څخه درې ورځې وړاندې د الوتنو ټکټ بُک کولی شي او له دې سره به په هره الوتنه شاوخوا ۱۰ یورو فیس هم ورکوي؛ خو مسافرو ته دا اجازه نه ورکول کېږي، چې په الوتکه کې خپل بکس کېږدي او بله یې دا چې دا وړاندیز یوازې لسو زرو کسانو لپاره محدود شوی دی.

د ویز ایر شرکت دا وړاندیز په امریکا کې د فرنټیئر ایرلاینز (Frontier Airlines) او په مالیزیا کې د ایر ایشیا (AirAsia) وړاندیزونو سره ورته والی لري. د ځینو متخصصانو په اند دا وړاندیز به ځینو مسافرینو ته گټور وي؛ خو د ټولو لپاره به مناسب نه وي؛ ځکه چې د ویزایر شرکت په خدمتونو نیوکې زیاتې شوې دي.

خو له دې سره بیا هم زرگونه مسافر دا وړاندیز یو ښه انتخاب گڼي او ترې خوښي څرگندوي.





# چرا طیارات بر فراز اقیانوس آرام پرواز نمی‌کنند؟

پیلوتان در پروازهای طولانی‌مدت معمولاً سعی می‌کنند از پرواز بیش از حد بر فراز اقیانوس آرام، اجتناب کنند.

اقیانــوس آرام بزرگ‌ترین پهنه آبی روی ســطح کره زمین اســت که به مســاحتی حدود ۱۶۹ میلیون کیلومتر مربع (یک‌سوم مساحت زمین) را اشغال می‌کند و عمیق‌ترین نقطه آن به ۱۱ کیلومتر می‌رسد.

وب‌سایت "Executive Flyers " می‌گوید، پرواز بر فراز اقیانوس آرام برای پیلوت‌ها زمان بیشتری می‌برد و این مسئله هزینه‌های اضافی را برای طیارات به همراه دارد.

علاوه بر ملاحظات هزینه، خطوط هوایی باید ایمنی را نیز در نظر بگیرند.

برای اطمینان از ایمنی، خلبان‌ها معمولاً مســیرهای منحنی را برای عبور از آسیا به امریکا و بالعکس انتخاب می‌کنند، زیرا در صورت بروز مشــکل در طیاره هنگام پرواز بر فراز اقیانوس آرام، تعیین محل فرود امن و مناســب دشوار خواهد بود. به همین دلیل، آن‌ها مسیرهای را ترجیح می‌دهند که شــامل تعداد بیشــتری از میادین‌هــا به‌عنوان یک اقــدام احتیاطی برای مواجه شدن با شرایط اضطراری باشد.

علاوه بر نگرانی‌های ایمنی، آب‌وهوای اقیانوس آرام در واقع بسیار غیرقابل پیش‌بینی است و رعد و برق‌های زیادی روی اقیانوس رخ می‌دهد که می‌تواند منجر به اختلال شود.

بیشــتر طیــارات تا حد امکان از پرواز بر فراز اقیانوس آرام اجتنــاب می‌کنند، زیرا از نظر آب و هوا مانند یک میدان جنگ است.

بنابر همین دلایل، پوهنتون شــفلید انگلستان می‌گوید؛ تنها پروازهای که به طور منظم در سراسر اقیانوس آرام انجام می‌شــود، پروازهای ساحل غربی ایالات متحده به استرالیا است و مدت چنین پروازهای می‌تواند تا ۱۴ ساعت باشد.

# د الوت ارمان

د ګربتانو يوې جوړې په يوه لوړ غره کې خپله ځاله جوړه کړې وه، په ځاله کې څو هګۍ پرتې وې، يوه ورځ يو ځوان همدې ځای ته برابر شو او په دې وتوانېد، چې له دې ځالې يوه هګۍ ترلاسه کړي، دا هګۍ يې کور ته راوړه او هلته يې د خپلې چرګې لاندې کېښوده، اخېر له هګيو چرګوړي راووتل او په اوازونو يې پيل وکړ، مګر د يوه چرګوړي اواز تر دې نورو بدل و، دا نور چرګوړي يې په اواز پسې خندل، دی په دې هڅه کې و چې خپل اواز د چرګوړو په شان کړي.

يوه ورځ يې پورته هوا ته وکتل، په هوا کې يې يو ګربت ولېد، چې لوړ الوت کوي، د ګربت په لېدو د ده په زړه کې عجيب هيجان راپورته شو، د الوت کولو شوق ور پيدا شو او داسې يې احساس کړه لکه دی چې هم الوت کولی شي. ده خپل دا حس له نورو چرګوړو سره شريک کړ؛ خو هغوی پسې وخندل او ورته وېې ويل، چې ته د چرګ زوی يې او چرګان کله په هوا الوتلي دي. مګر ده به په زړه کې ويل چې يو ځل خو به هڅه وکړم، شايد چې الوت وکړم؛ خو د نورو چرګوړو خبرو به يې دا حس او ارمان بېرته له منځه يووړ او اخېر يې ورو ورو د الوت حس هم له فکر څخه په وتو و.

ورځې او مياشتې تېرېدې او د ګربت بچي به په ارمان او حسرت په هوا کې هغو ګربتانو ته کتل، چې په شنه اسمان کې يې ازاده الوتنه کوله؛ خو ده هيڅکله د دې ارمان د پوره کولو کوچنۍ هڅه هم و نه کړه او اخېر يوه ورځ د چرګانو په کوټنۍ کې مړ شو.

په موږ کې هم ډېرې بې مثاله وړتياوې شته، چې په مرسته يې کولی شو لويې برياوې لاسته راوړو؛ خو له بده مرغه کله چې نور زموږ په غوږونو کې دا خبره تکرار کړي، چې ستا خوبونه او ارمانونه يوازې تش خيالونه دي، له دې سره هر څه هېر کړو او له خپل عادي ژوند سره عادت شو.

ژباړه



فیض‌آباد هوايي ډګر (بدخشان)

وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

# ترانسپورت و هوانوردی

مجله

علمی معلوماتی فرهنگی

